# زکات

ځېړنه:

اجرالدين اقبال

# زکات

ځېړنه:

اجرالدين اقبال

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب نامه: زکات

ځېړنه: اجرالدين اقبال

د چاپ کال او وار: لومړی

تخنيکي چارې: انديال؛ ديني، علمي، فرهنګي او خپرندويه ټولنه www.andyal.com

# لړلیک


لړلیک ........................................................ ٤
د زکات مانا .................................................. ٧
د زکات پراخوالی ............................................. ٨
زکات په قرآن کریم کې ...................................... ٩
په تېرو اسماني ادیانو کې زکات ............................ ١٢
له نورو ادیانو سره په اسلام کې د زکات توپیر ............ ١٥
زکات په اسلام کې ............................................ ١٦
د زکات اهمیت ................................................ ١٩
د زکات اغېزې ................................................ ٣٧
د زکات ټولنیزې اغېزې ...................................... ٤٨
زکات ته د شا کولو نښې ...................................... ٥٥
د زکات لګول ................................................... ٦٤
په ټولنه کې فقیران ولې وي؟ ................................ ٧٦
هغه کسان چې د زکات په اخستو کې لومړیت لري ............ ٧٩
متقي ایمانوال ................................................. ٨٠
دویم برخه؛ .................................................... ٨٣
په پینځګونو مذاهبو کې د زکات فقهي احکام ............... ٨٣
زکات ............................................................ ٨٤
د مالونو د زکات شرطونه: ................................... ٨٤

هغه مالونه چې زکات یې واجب دی: ........................................ ۸۸
د څارویو زکات: ........................................ ۸۹
د څارویو د زکات شرطونه ........................................ ۸۹
د څارویو زکات څلور شرطونه لري: ........................................ ۸۹
د اوښ نصاب: ........................................ ۸۹
د غوایانو نصاب: ........................................ ۹۱
د پسه نصاب: ........................................ ۹۲
د سرو او سپینو زرو زکات: ........................................ ۹۵
د میوې او کښت زکات: ........................................ ۹۷
د سوداګرۍ زکات: ........................................ ۹۸
زکات پر ذمه سره دی، یا په خپله په مال کې: ........................................ ۱۰۰
د زکات وړ ........................................ ۱۰۳
فقیر: ........................................ ۱۰٤
مسکین: ........................................ ۱۰٦
کارکوونکي: ........................................ ۱۰۹
رقاب: ........................................ ۱۱۰
پوروړي: ........................................ ۱۱۱
فی سبیل الله: ........................................ ۱۱۱
ابن السبیل: ........................................ ۱۱۲
د فطر زکات ........................................ ۱۱٤
هغه سړی، چې پر ورکولو یې مکلف دی: ........................................ ۱۱٤

د فطر د زکات اندازه: ........................................................ ۱۱۷
د واجبېدو وخت: ............................................................. ۱۱۸

## د زکات مانا

زکات په لغت کې ودې او پاکوالي ته وايي.

هو! پر نشتمنو زړسوی او ورسره مرسته د انسان د مانیزې – معنوي ودې، له کنجوسۍ او حرصه د انسان د روح د پاکوالي لامل دی.

په فقهي اصطلاح کې زکات نشتمنو ته له خپل مال څخه د یوه ټاکلي مقدار ورکول دي.

زکات په قرآن کریم کې هم په لغوي مانا کې راغلی، الله تعالی جلّ جلاله وايي: «و حَناناً من لدُنّا و زکاةً و کان تَقيّاً[1]»

او هم په اصطلاحي مانا راغلی دی، چې البته عامه مانا لري او فرضي او مستحبي دواړو مرستو ته ویل کېږي.

---

[1] (مریم/۱۳)

## د زکات پراخوالی

په اسلام کې زکات پراخ مفهوم لري او هر څیز ته زکات ټاکل شوی، چې دا دی:

د پت زکات د خلکو ستونزاواری دی.

حضرت علي کرم الله وجهه وايي: لکه څرنگه چې د مال د زکات ورکړه فرض ده، د پت د زکات ورکړه هم فرض ده.

امام صادق رحمة الله علیه وايي: پر هر غړي زکات فرض دی:

عبرتناکه کتنه او له گناهونو سترگې پټول، د سترگې زکات دی.

د علم، حکمت او قرآن کریم اورېدنه د غوږ زکات دی.

مسلمانانو ته ورم – نصیحت کول د غافلینو راوېښول او د الله تعالی تسبیح د ژبې زکات دی.

د پوهنو لیکنه او د مال ښنه د لاس زکات دی.

د جهاد په لار کې هاندوهڅې، زده کړه، په خلکو کې جوړجاړی او د ښو خلکو لیدنه کتنه د پښو زکات دی.

خپرول يې د علم زکات دی.
انصاف د ځواک زکات دی.
جهاد د زړورتيا زکات دی.
الهي امرونو او منعو ته غاړه ايښوونه د روغتيا زکات دی.
د بې عقلو زغمل د عقل زکات دی.[1]

## زکات په قرآن کريم کې

پر لمونځ زړه ته ارامتيا ورکړئ او پر زکات وټيزې –اقتصادې تشې ډکې کړئ. (وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ[2])
په عبادتونو کې لمونځ او زکات ځانګړې مقام لري. (وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ[3])

---

[1] (غررالحکم او ميزان الحکمة)
[2] (نساء/۷۷)
[3] (نساء/۷۷)

د لمونځ او زکات حکم تر جهاد مخکې تشریع شوی. (كُفُّواْ أَيْدِيَكُمْ وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ وَآتُواْ الزَّكَاةَ. . . .[1])

ځان جوړونه تر ټولنې جوړنې مخکې او وړ ده. هغه چې لمونځ نه کوي او زکات نه ورکوي؛ نو اخلاص او ایثار به هم ترې و نه وینئ. ( وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ[2])

اسلام هم له خالق سره پر اړیکو ټینگار کوي، (لمونځ) (وَأَقِيمُواْ الصَّلاَةَ) او هم له خلکو سره پر اړیکو (زکات) (وَآتُواْ الزَّكَاةَ)

سره له دې چې لمونځ او زکات په ټولو ادیانو کې وه؛ خو د ارزښت له امله یې بېل بېل راوړي دي. (بِمَا أُنزِلَ إِلَيكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ وَالْمُقِيمِينَ الصَّلاَةَ[3]. . . . )

---

[1] (نساء/۷۷)

[2] (نساء/۷۷)

[3] (نساء/۱٦۲)

لمونځ او زکات نه بېلېدونکي دي، لمونځ کوونکی باید زکات ورکوونکي هم وي. (وَالْمُقِيمِينَ الصَّلاَةَ وَالْمُؤْتُونَ الزَّكَاةَ)[1]

د انفاق، اطعام، زکات، خمس، او صدقې فرمان زموږ ودې ته ورکړ شوی او د لارښوونې مزدوري نه ده. (لاَ يَسْأَلْكُمْ أَمْوَالَكُمْ)[2]

د سوداګرۍ پرېښوول ارزښت نه دی، بلکې د الله تعالی له ذکر، لمونځ او زکات سره مل سوداګري ده، چې ارزښت لري(لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ. . . . . عَن ذِكْرِ اللَّهِ. . . . [3]) (الهي انسان دنیا ته غوږ‌ځې پرځې کوي؛ خو له الله تعالی هم نه غافلېږي) لمونځ او زکات یو د بل ترڅنګ دي اوهغوي ستاینوړ دي، چې دواړه کوي (وَإِقَامِ الصَّلاَةِ وَإِيتَاء الزَّكَاةِ[4])

---

[1] (نساء/۱٦۲)

[2] (محمد/۳٦)

[3] (نور/۳۷)

[4] (نور/۳۷)

لمونځ او زکات د صالح عمل ښکاره بېلګې دي چې د مومنانو د واکمنۍ پر مهال ترسره کېږي (وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا. . . . وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ. . . [1])

په اسلام کې عبادي (وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ)، مالي (وَآتُوا الزَّكَاةَ)، سياسي، او حکومتي (وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ) مسايل بېل نه دي.[2]

## په تېرو اسماني اديانو کې زکات

زکات په اسلام پورې ځانګړې نه دی، بلکې په تېرو اديانو کې هم وه.

زکات او لمونځ د ټولو اسماني اديانو له ګډو ټکيو څخه دي.

حضرت عيسی عليه السلام په زانګو کې په خبرو شو او ويې ويل: ((اَوصانی بالصّلوة و الزّکاة[3]= د لمانځه او زکات سپارښتنه يې راته کړې ده.))

حضرت موسی عليه السلام بنی‌اسرائيلو ته وويل:

---

[1] (نور/۵۷)

[2] (نور/۵۷)

[3] (مريم/۳۱)

«اقیموا الصّلوة و آتوا الزّکاة[1]=او لمونځ (په ښه شان) وکړئ او زکات ورکړئ.
قرآن کريم د حضرت اسماعيل عليه السلام په باب وايي:
«کان یأمر أهله بالصّلوة و الزّکاة[2]=او تل يې خپلې کورنۍ ته د لمانځه او زکات امر کاوه.

**د ټولو پيغمبرانو په اړه راغلي:**
« وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصَّلَاةِ وَإِيتَاء الزَّكَاةِ[3]=او موږ هغوی لارښوونکي کړل، چې زموږ په امر يې (خلکو ته) لارښوونه کوله او موږ د ښو

---

[1] (بقره/۴۳)
[2] (مريم/۵۵)
[3] (انبياء/۷۳)

چارو د کولو او لمونځ درولو او زکات ورکولو وحې ورته وکړه.
«و ما أُمروا الاّ ليعبدوا اللّه. . . و يقيموا الصّلوة و يؤتوا الزّكاة و ذلك دين القيّمة))[1]
ددې آيت پر بنسټ په ټولو اسماني اديانو کې د لمانځه او زکات انډول او برابر يا قرين موجود وه.
ارواښاد علاّمه طباطبايی د زکات په اړه وايي:
که څه، هغه ټولنيز قوانين چې په بشپړ ډول اسلام راوړي، ساری او مخينه نلري؛ خو ددې آر او اصل د اسلام نوون – ابتکار نه و؛ ځکه د بشر فطرت پرې پر اجمالي ډول پوهېده.
نو له دې مخې تر اسلام مخکې په اديانو او د لرغوني روم په قوانينو کې، د ټولنې د سنبالنې په اړه څه نا څه قوانين ليدل کېږي او ويلای شو، چې په يو پېر کې هم داسې خلک نه ول، چې د ټولنې د سنبالنې لپاره يې مالي حقوق نه درلودل،

[1] (بينه/٥)

ځکه ټولنه چې هر رنګه وه؛ نو خپلې ودې ته يې مالې لګښتونو ته اړتيا درلوده.[1]

## له نورو اديانو سره په اسلام کې د زکات توپير

د آيتونو او روايتونو له څېړنې پوهېږو چې په اسلام کې زکات د نورو الهي اديانو په څېر نه دی، چې تش وصيت، اخلاقي سپارښتنه، او موعظه وي چې په دې توګه خلک نېکۍ ته رامات کړي او له بخل څخه يې وساتي؛ بلکې يوه الهي فريضه ده او پر وړاندې يې بې پروايي، فسق دی او منکر يې کافر ګڼل کېږي.

په اسلام کې د زکات ځايونه، شرايط او د ورکړې کيفيت يې په دقيق ډول جوت شوی دی او دهغې د راټولنې پازوالي – مسوليت د اسلامي دولت پر غاړه دی او که څوک د زکات له ورکړې ډډه وکړي؛ نو له دوی څخه پوښتنه کېږي او له

[1] (الميزان تفسير، ۹ ټ، ٤٠٨ مخ)

سرغړونکيو سره يې که چيرته د دين ضروري انکار لامل شي، مقابله کيږي.[1]

## زکات په اسلام کې

د زکات ويی – کلمه دوه ديرش ځله په قرآن کريم کې راغلې ده، چې پر بنسټ يې د زکات ورکول پر الله تعالى او د قيامت پر ورځې د ايمان نښه ده. «مَن آمن باللّه و اليوم الاخر و اقام الصّلوة و آتى الزّكاة. . . [2]»
د توبې د قبلېدو او د گناهونو د بښل کېدو لار، د لمانځه کول او د زکات ورکول دي. «فان تابوا و اقاموا الصّلوة و آتوا الزّكاة فاخوانكم فى الدّين»[3]
د لمانځه درول او د زکات ورکول د صالحانو د حکومت نښه ده. «الّذين ان مكّناهم فى الارض اقاموا الصّلوة و آتوا

---

[1] ( فقه الزكاة، دكتر يوسف القرضاوي.، ١/ ٨٥، ٨٦)
[2] (توبه/١٨)
[3] (توبه/١١)

الزّكاة[1]»

له لمانځه کولو او د زکات له ورکړې سره مل سوداګري او راکړه ورکړه د الهي مړانو نښه ده. «رجال لا تلهيهم تجارة و لا بيع عن ذكر اللّه و اقام الصلوة و ايتاء الزّكاة»[2]

له زکاته نټه – انکار له کفر سره برابره ده. «الّذين لا يؤتون الزّكاة و هم بالآخرة هم كافرون[3]»

په ګڼو مکي سورتونو کې زکات ته اشاره شوې ده.[4]

ځينې مفسرين دا آيتونه په مستحب زکات پورې ځانګړي ګڼي[5] او ځينې نور وايي: د زکات حکم په مکه کې نازل شوی؛ خو د مسلمانانو د کم شمېر له کبله د زکات ډېرې پيسې نه راټولېدلې او خلکو پخپله زکات ورکاوه[6].

---

[1] (حج/۴۱)

[2] (نور/۳۷)

[3] (فصلت/۷)

[4] لکه اعراف/ ۱۵٦، نمل/ ۳، لقمان/ ۴، فصلت/۷.

[5] (نمونه تفسير ۸ټ/ ۹ مخ)

[6] (د نور تفسير، د سورت توبه تر ٦۰ آيت لاندې)

خو په مدینه کې د اسلامي حکومت تر جوړېدو روسته د «خُذ من أموالهم صَدقة[1]» د آیت تر نازلېدو روسته د زکات اخستل او بیت المال ته ورسپارل اوځار – مطرح شول.
دا آیت د دویم هجري کال د روژې په میاشت کې رانازل شو او پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم حکم وکړ، چې خلکو ته ووایئ چې الله تعالی زکات د لمانځه په څېر فرض کړ. یو کال روسته یې حکم ورکړ، چې مسلمانان دې خپل زکات ورکړي[2].
په رښتینه کې د اسلامي حکومت تر جوړېدو او د بیت المال تر رامنځ ته کېدو روسته زکات تر ځانګړې کړلارې لاندې راغې او معلومې اندازې او نصابونه ورته وټاکل شول[3].
ځینې په دې باور دي، روسته تر دې چې انحضرتصلی الله علیه و آله وسلم ته د زکات د راټولونې دنده وسپارل شوه؛ نو

[1] (توبه/۱۰۳) (نور تفسیر، ۵ ټ، ۸۷ مخ)
[2] (نور تفسیر، ۵ ټ، ۱۳۷ مخ)
[3] ( نمونه تفسیر، ۱۹۷/۱۴)

د زکات مصارف په دقیق ډول د توبې سورت په ٦٠ آیت کې بیان شول او دا د هېښنې ځای نه دی چې د زکات د آر تشریع د توبې سورت په ۱۰۳ آیت کې وي او د مصارفو یادونه یې په ٦٠ ام آیت کې وي، ځکه پوهېږو چې د قرآن کریم آیتونه د انحضرت صلی الله علیه و آله وسلم په حکم هر یو یې په مناسب ځای کې ایښوول شوي دي.[۱]

## د زکات اهمیت

د اسلام علماوو زکات د دین له ضرریاتو څنې ګڼلی او ترې منکر یې کافر ګڼلی دی.

زکات، د ټولنې د وټیزو –اقتصادي دردونو درمل دی او لکه څرنګه چې د چا د بدن یو غړی په درد شي؛ نو ټول بدن یې له حرکته پرېوځي؛ نو همدارنګه که په ټولنه کې هم یوه ډله

---

[۱] (نمونه تفسیر، ۸ ټوک، ۹ مخ)

له ستونزو سره مخ شي؛ نو د دې ټولنې خوځون – حرکت هم گوزنگ وهي او زکات د ټولنې د ستونزاوارې لپاره دی.

رسول الله صلی الله علیه وآله قسم وخوړ چې بې له مشرکه بل د زکات په ورکړه کې خیانت نه کوي[1].

رسول الله صلی الله علیه وآله په روستۍ خطبه کې فرمایي: ای خلکو! د خپلو مالونو زکاتونه ورکړئ. څوک چې زکات ورنکړي، نه یې لمونځ قبلیږي، نه یې حج او نه هم جهاد.[2]

په روایتونو کې راغلي: «تمام اسلامکم اداء الزّکاة[3]»، «. . . سبعة من کنّ فیه فقد استکمل حقیقة الایمان. . . و ادّی الزّکاة ماله[4]»

## څه وکړو، چې خلک د خپل مال زکات ورکړي؟

---

[1] (بحار، ۹٦ ټ، ۲۹ مخ.)

[2] (مستدرك الوسائل، ۱ ټ، ۵۰۷ مخ.)

[3] (کنزالعمّال، ج٦، ص٩٦.)

[4] (جامع الأحادیث، ج٩، ص٤٥.)

په پیل کې باید په گروهیزو، اندیزو او فرهنگي جرړو پسې ولاړ شو:
که څوک باور وکړي کوم مال چې ورسره دی، هغه د الله تعالی امانت او ډالۍ ده،
که باور وکړي چې پر نورو کوم غوروای نلري او ټول یو له بل سره برابر دي،
که باور وکړي، چې د نشتمنو د زړونو راماتول د مال تر راټولونې خورا ارزښتمن دی، که باور وکړي، چې د نشتمنو دعا به یې د ژوند ستونزې ور اوارې کړي،
که باور وکړي، چې ښایي سبا به خپله له همدې نشتمنو څنې وي، که باور وکړي، چې د انفاق تشه به الله تعالی ډکه کړي،
که باور وکړي، چې د ده انفاق دهغه دانې په شان دی، چې په گڼو وږو او سلگونو دانو به بدل شي، که باور وکړي، چې نشتمن به د ده مالي مرسته تر قیامته پورې یوسي، که باور وکړي، چې د نشتمنو او بېوزلو مړول یو مانیز خوند او دننۍ ارامتیا له ځانه سره لري،

که باور وکړي، چې ننني مرسته به يې په برزخ کې ورسره د ښکلي مخ په څېر مل وي،
که باور وکړي، چې د مسلمينو ستونزاوارى د رسول الله صلى الله عيله و آله ستونزاوارى دى،
که باور وکړي، چې د ټولنې د نشتمنو او بېوزلو پر وړاندې بې پروايي ښايي د سترې چاودنې، اوښتون او د ده د ټولو مالونو د له منځه تلنې لامل وګرځي،
که له نورو سره د مرستې په اجرونو، برکتو او اغېزو يې ايمان ولري
که د بخل، حرص، مال راټولونې او بې پروايۍ پر خطرونو پوه شي او د بې پروا شتمنو له تاريخ سره اشنا وي؛ نو ځان به د زکات او انفاق ورکړې ته چمتو کړي.
که پوه شو، چې الله تعالى را څخه پور غوښتی او ويلي يې دي «مَن ذا الّذی یُقرِض اللّه قَرضاً حَسناً»[1] هغه الله تعالى چې د اسمانونو او ځمکې د خزانو مالک دی؛ نو پوه به شو، چې

---

[1] (بقره/۲۴۵)

ددې پور موخه په حقیقت کې په انسان کې د سخاوت او انسان دوستۍ د روحیې راټوکول دي[1] که موږ هم د حضرت سلیمان علیه السلام په شان خپله ټوله شتمني د الله تعالی درښتن - فضل وګڼو او ووایو: «هذا من فضل ربیّ[2]»؛ نو کله به هم د زکات په ورکړه کې بخل ونکړو.
که د الله تعالی نعمتونه د هوساینې، غفلت او سرمستۍ وزله و نه ګڼو او یو ډول ازمېښت وزله یې وګڼو لکه څرنګه چې، قرآن کریم وایي: «لیبلونی ءاشکر ام اکفر[3]»، چې ایا دا الله تعالی راکړي نعمتونه په سمه توګه کاروو او عملي شکر یې اوباسو او که د نعمت کفران یې کوو،
که پوه شو، چې هستي، فکر، پوهه، ځواک؛ نوون او توفیق چې لرو؛ دا هر څه د الله تعالی له اړخه دي او ان په بزګرۍ کې هم زموږ دنده یوازې د تخم د دانې کرل دي، او نورې

(نهج البلاغه/ ۱۵۴) [1]
(نحل/ ۴۰) [2]
(نحل/ ۴۰) [3]

چارې د الله تعالی له اړخه دي، لکه د ځمکې له خوا د اوبو جذب، په ځمکه کې د دانې راټوکېدل، د رڼا او هوا راجذبول، لکه څرنګه چې قرآن کريم وايي «ءانتم تزرعونه ام نحن الزارعون[1]»؛ نو کله به هم بخل و نکړو.

که پوه شو، چې په ښکاره خو بېوزلي او نشتمن مو د مرستو ترلاسه کوونکي دي؛ خو په رښتينه کې دا الله تعالی دی چې صدقې مو اخلي«يأخذ الصّدقات[2]» نو په اسانۍ به مرسته وکړو او لکه څرنګه چې په روايتونو کې راغلي، ځان به هم ښکل کړو.

که پوه شو، چې د نشتمنو او بېوزلو پر وړاندې بې پروايي مو د قارونيانو پر برخليک اخته کولای شي، چې قارون يې له شتمنۍ سره يو ځای ځمکې ننايستل«فخسفنا به و بدار[3]ه» نو دومره بخل به ونکړو. قارون ويل: مالونه مې د الله تعالی نه،

---

[1] (واقعه/۶۴)

[2] (توبه/۱۰۴)

[3] (قصص/۸۱)

بلکې د خپلې پوهې، کارپوهۍ او نوون له لارې ترلاسه کړي دي «انّما اُوتیتُه علی علم عندی[1]»

که د هغه بڼ داستان ته ځیر شو، چې وسوځېد؛ نو وبه وینو چې څرنګه دهغو کسانو بڼ یو مخې اور واخیست، چې څښتنانو یې هوډ وکړ، چې نشتمن او بېوزلي له الهي نعمتونو بې برخې کړي. «فاصبَحَت کالصَّریم[2]»

که پوه شو، چې د یتیمانو پر وړاندې بې پروایي ښایي زموږ د ماشومانو د یتیمانو لامل شي.

که پوه شو، چې نننۍ مرستې به مو دوه ګرایه، او په ځینو ځایونو کې څو ګرایه او په ځینو ځایونو کې لس ګرایه او اوسوه ګرایه بېرته راګرځول کېږي؛ نو کله به هم بخل ونکړو.

امام صادق رحمة الله علیه وایي: «ما فرض اللّه علی هذه الامّة شیئاً اشدّ علیهم من الزکاة و فیها تهلك عامتهم[3]»

---

[1] (قصص/۷۸)

[2] (قلم/۲۰)

[3] (وافي ۳۳/۱۰)

که پوه شوه چې د ګاندې – راتلونکې له نشتمنۍ مو چې وېروي، هغه شيطان دی. «الشيطان يعدكم الفقر[1]»؛ نو کله به هم د شيطان له ګوتځنډونکيو وسوسو و نه وېرېږو.

که پوه شو چې د الله تعالی ځايناستي يو او دا به ځومره ستره جفا وي، چې تش په مادياتو راضي او خوښ شو؛ نو کله له هم پر مادياتو زړه و نه تړو «أرضيتم بالحياة الدّنيا[2]»

که پوه شو، چې د ډېرې شتمنۍ راټولونه يو تلپاتې باطله انګېرنه ده [الَّذِي جَمَعَ مَالاً وَعَدَّدَهُ. يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ[3]] نو کله به هم د زکات او خمس ورکړې ته شا نه کړو.

که پوه شو، چې ځومره راسره ډېر وي؛ نو هومره مو مسووليت هم ډېر دی. الله تعالی چې خپل پېغمبر ته کوثر او ډېر خير او برکت ورکوي؛ نو هغه ته د پسه قرباني کول بسيا نه ګڼي، بلکې يو اوښ بايد قرباني کړي. [إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ. فَصَلِّ

---

[1] (بقر/٢٦٨)

[2] (توبه/٣٨)

[3] (الهمزه/١ – ٢ )

لِرَبِّكَ وَانْحَرْ[1] ] هو! که څوک تر ټولو ډېره لاس ته راوړنه لري؛ نو مرسته يې بايد ډېره وي.

که پوه شو چې د زکات په ورکړې د رسول الله صلى الله عليه و آله وسلم سلام او صلوات ترلاسه کوو؛ نو په اسانۍ به زکات ورکړو. الله تعالى جلّ جلاله خپل پېغمبر ته وايي: [خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلاَتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ وَاللّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ[2] = له مالونو يې (د زکات په نامه) صدقه واخله، چې په دې يې پاك سازي وکړي او ويې روزې او (د زکات اخستو پر وخت) دعا ورته وکړه؛ ځکه دعا دې ورته ډاډېنه ده او خدای پوه اورېدونکی دی.]

که پوه شو، چې علي کرم الله وجهه په لمانځه کې خپله يو گوتمه نشتمن ته ورکوي او ان دې ته يې هم صبر و نه کړ، چې لمونځ پای ته ورسوي او که پوه شو، چې د نشتمنو

---

[1] (کوثر/۱. ۲)

[2] (توبه/۱۰۳)

لاسنيوى لکه د حجرالاسود ښکلول دي؛ نو کله به هم دا کار بل ته و نه سپارو او خپله به يې وکړو.

که پوه شو، چې دوزخيان د جنتيانو په ځواب کې وايي: په دوزخ کې د پرېوتو يو لامل مو دا وه، چې د نشتمنو پر وړاندې بې توپيره وه [وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِينَ[1]= او بېوزليو ته مو خواړه نه ورکول]؛ نو د بېوزليو پر وړاندې به ځان زمه وار وګڼو.

که باور وکړو چې قرآن کريم وايي: څه چې درسره دي پوپناه کيږي او څه چې مو الله تعالى ته او دهغه په لاړ کې ورکړي، پاتيږي[مَا عِندَكُمْ يَنفَدُ وَمَا عِندَ اللّهِ بَاقٍ[2]]

که باور وکړو چې قرآن کريم وايي: بخيلان دې نه انګيري، چې مالونه يې ورته خير دی، بلکې ورته شر دی. [وَلاَ يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُواْ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلِلّهِ مِيرَاثُ

---

[1] (مدثر/۴۴)

[2] (نحل/۹٦)

السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاللّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ"[1]=او خدای چې پر چا لورېدلی وي او پکې کنجوسي کوي(؛ نو) نه دې یې ګڼي، چې دا کار یې په ګټه دی؛ بلکې په زیان یې دی، ژر به د قیامت پر ورځ هغه څه ورته د غاړې هار شي، چې کنجوسي یې پرې کوله او اسمانونه او ځمکه یوازې خدای ته پاتېږي او څه چې کوئ، خدای پرې ښه خبر دی. ]

که باور وکړو، چې امام صادق رحمة الله علیه وویل: الله تعالی د شتمنو په شتمنیو کې بېوزلي او نشتمن شریک کړي او د بیوزلو حق باید ورکړل شي.[2]

که باور وکړو، چې الله تعالی خپل بنده پوښتي: ایا د فرمان پر وړاندې مې بخل کوئ؟ ایا ما تورنوئ؟ ایا انګېرلې دې ده، څه چې د انفاق کړي؛ نو له سکېندې – جبرانولو یې بېوسې یم؟

[1] (آل عمران/۱۸۰)

[2] (جامع الحادیث ۲۴۳/۹)

نو ځان به له نشتمنو سره بسپني ته لا چمتو کړو.[1]
که پوه شو چې د زکات نه ورکول له هغو گناهونو څنې دي چې د پښېمانې او حسرت لاملېږي.[2]
او د مرگ په شېبه انسان له الله تعالی ه غواړي چې دنیا ته ورستون شي او د نشتمنو حق ورکړي.[3]
که پوه شو چې د زکات نه ورکول، انسان د ایمان او اسلام له مداره اوباسي [من منع قیراطاً من الزکاة فلیس بمؤمن و لا مسلم.[4]]
که پوه شو، چې رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم د کعبې تر څنگ ابوذر (رض) ته وویل: هغوی تر ټولو ډېر زیانکاره دي، چې زکات نه ورکوي[5].

---

[1] ( جامع الاحادیث ۹/ ۳۲۵)
[2] (جامع الاحادیث ۹/ ۵۸)
[3] (جامع الاحادیث ۹/ ۵۸)
[4] ( جامع الأحادیث، ۹/ ۵۸)
[5] (مستدرک الوسایل ۱/ ۵۰۸)

که پوه شو چې هره ورځ زر پرښتې زکات نه ورکوونکي شتمن ته د اور زیرى ورکوي.[1]

که پوه شو چې رسول الله صلى الله علیه و آله وسلم هغو کسانو ته د بېلابېلو عذابونو ( سخت باد، زلزلې، او د مخ اوختنې) ژمنه ورکړې، چې د زکات ورکړه، تاوان گني.[2]

که پوه شو، چې رسول الله صلى الله علیه و آله وسلم قسم خوړلى چې د زکات نه ورکول له الله تعالى سره خیانت او شرک دى[3]

که پوه شو چې الله تعالى دهغو نومونه په مشرکانو او کافرانو کې راوړي چې زکات نه ورکوي [الَّذِينَ لاَ يُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُم بِالْآخِرَةِ هُمْ كَافِرُونَ[4]]

---

[1] ( جامع الاحادیث ۴۳/۹)

[2] (جامع الاحادیث ۵۳/۹)

[3] (بحار ۲۹/۹٦)

[4] (فصلت/۷)

که پوه شو چې زکات د دین له ضرریاتو څنې دی او نته – انکار یې کفر دی.[1]

که پوه شو، چې رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: هغه مال، چې زکات یې نه وي ورکړل شوی، ملعون دی.[2]

که پوه شو، چې د حضرت ابوبکر (رض) د خلافت پر مهال له زکات نه ورکوونکې ډلې سره پوځي چلن کېده، چې ان حضرت علي هم ددې ډلې پر ضد په پوځي جبهه کې ګډون درلوده.[3]

که پوه شو، چې امام صادق رحمة الله علیه ویلي: که څوک، ان د زکات لږه اندازه هم ورنکړي؛ نو نصراني یا یهودي به ومري.[4]

---

[1] (مبسوط شیخ طوسي، ۱/ ۹۰۱)

[2] (وافي ۴۴/۲)

[3] (نمونه تفسیر ۱۱/۸)

[4] ( جامع الاحادیث ٦٣/۹)

که پوه شو چې امام صادق رحمة الله علیه به زکات نه ورکوونکي ته د غل لقب ورکاوه.[1]

که پوه شو او باور وکړو چې رسول اللهصلی الله علیه و آله وسلم او امامانو په قیامت کې د زکات نه ورکوونکیو کسانو د عذاب ننداره داسې بیان کړي، چې غټ مار به د دوی پر ستونو وراچول کیږي او دا هماغه څه دي، چې قرآن کریم وایي: [سَيُطَوَّقُونَ مَا بَخِلُوا[2]] هغه مال چې بخل پکې وشو؛ نو په قیامت کې به یې د غاړې هار شي.[3]

که باور وکړو چې قرآن کریم وایي: د قیامت پر ورځ به زېرمه شوي مالونه په اور کې سره کړي او دهغو تندي او اړخونه پرې داغي، چې زکات یې نه ورکاوه او ورته ویل کیږي: دا هماغه څه دي چې په دنیا کې مو زېرمه کړي وه او د نشتمنو حق مو پکې نه ورکاوه.

---

[1] (وافي ۱۰/۴۴)

[2] (آل عمران/۱۸۰)

[3] (وافي ۱۰/۴۴)

که باور وکړو چې د زکات نه ورکول هماغه کبیره گناه ده چې الله تعالی یې د عذاب ژمنه کړې،
هو! که داسې باورونه ولرو؛ نو د الهي حق په ورکړه کې به یوه شیبه هم ځنډ ونکړو.
که پوه شو، چې زکات په برزخ کې د لمانځه ترڅنگ د انسان ملگری کېږي؛ نو په اسانۍ به زکات ورکړو.[1]
که پوه شو، چې د زکات په ورکړه، څو گرایه اجرونه ترلاسه کوو، چې په شمېر او ژوروالی یې بې له الله تعالی بل نه دی خبر[2]؛ نو کله به هم بخل ونکړو.
که پوه شو چې د زکات په ورکړه، ځان ته د جنت دروازې پرانځو[3]؛ نو کله به هم بخل ونکړو.

---

[1] (جامع الاحادیث ۴٦/۹)
[2] ( جامع الاحادیث ۵۳/۹)
[3] (جامع الاحادیث ۴۵/۹)

که پوه شو هغه چې خپل زکات پوره ورکوي او پخپل ځای یې لګوي؛ نو په قیامت کې نه پوښتلیږي، چې مال دې له کومه ترلاسه کړی[1]؛ نو د زکات د ورکړې هڅونه به ډیره شي.
که پوه شو، چې په دنیا کې د زکات ورکول، پر هغه ورځ د الهي لورنې د ترلاسه کوونې کونجي ده، چې تر ټولو حاجمتن یو او د نني زکات نه ورکول تر ټولو لوی تاوان دی[2]؛ نو د زکات په ورکړه کې به لږ ځنډ هم ونکړو.
که پوه شو، په زکات کې د غنمو، اوربشو، او داسې نورو هر دانه د سرو او سپینو زرو او رڼاګانو مانۍ دي؛[3] نو په ورکړه کې به یې لږ ځنډ هم ونکړو.
که پوه شو چې عاشقانه زکات ورکول د ګناهونو کفاره ده[4]؛ نو په ورکړه کې به یې بیړه وکړو.

---

[1] (جامع الاحادیث ۳۳/۹)
[2] (جامع الاحادیث ۳۲/۹)
[3] (جامع الاحادیث ۳۲/۹)
[4] (جامع الاحادیث ۳۳/۹)

که پوه شو، چې زکات ورکوونکی په اوو اسمانونو کې په سپېڅلي نامه یادېږي، په لومړي اسمان کې د ((سخي))، په دویم اسمان کې د ((جواد)) یا ځوانمرد، په درېیم اسمان کې د ((معطی)) او په نورو اسمانونو کې د ((مبارک))، ((محفوظ))، ((منصور)) او مغفور په نامه یادېږي[1]؛ نو په اسانۍ به دا نېک نومونه له لاسه ورنکړو.

که پوه شو چې د نشتمنو مړول په قیامت کې د مړولو رمز دی او په دې دنیا کې د تږو تنده ماتول په قیامت کې د تندې ماتولو رمز دی[2]؛ نو تر وسې به د زکات او خمس په ورکوونې د وږو، تږو او لوڅو چوپړ وکړو.

---

[1] (جامع الاحادیث ۳۴/۹)

[2] (جامع الاحادیث ٦٨۴/۹)

# د زکات اغېزې

## د زکات وګړيزې اغېزې

### د بخل درملنه

بخل هغه عيب دی چې نور عيبونه هم راوړي. خلکو ته نه پاملرنه، کلک زړي، انې بانې لټول، د نشتمنو د ادعاوو دروغ ګڼل، د ښو دوستانو له لاسه ورکول، پر ځان او خپلوانو سختچاري، د الله تعالی پر ژمنو بد ګوماني، په ټولنې کې د خپلې وګړې – شخصيت سپکاوی او پر الله تعالی د توکل پر ځای پر خپل مال توکل د بخل د نښو څنې دي.

قرآن کريم وايي:

وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ[1]

---

[1] (حشر/۹)، (تعابن/۱٦)

خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلاَتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ وَاللّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ[1] = له مالونو يې (د زکات په نامه) صدقه واخله، چې په دې يې پاك سازي وکړي او ويې روزې او (د زکات اخستو پر وخت) دعا ورته وکړه؛ ځکه دعا دې ورته ډاډېنه ده او خداى پوه اورېدونکى دى.

په يو روايت کې راغلي: من ادّى الزكاة. . . فقد وقى من الشح[2]؛ ځوک چې د خپل مال زکات ورکړي؛ نو په غوڅ ډول له بخل څخه ساتل شوى دى.

زکات الله تعالى ته د تقرب وزله ده. الزّكاة جعلت مع الصّلوة قرباناً لأهل الاسلام[3]

زکات د اسلام پول دى.[4]

---

[1] (توبه/۱۰۳)

[2] (جامع الأحاديث، ۹، /٤)

[3] (وسائل، ٦، /٦.)

[4] (امالي طوسي، ۱۳٦/۲)

د دين او لمانځه تر ښاندې – پېژندنې روسته، زکات تر ټولو لوړ ارزښت دی. ما من شیء بعد المعرفة و الصلاة يعدل الزّكاة[1]

زکات د الله تعالی د بندګۍ نښه ده. للعابد ثلاث علامات: الصّلوة و الصّوم و الزّكاة[2]

زکات د بریا لامل دی. [قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّىٰ[3]]

**د رزق برکت:**

د زکات او برکت کلمات او ورپورې اړونده ویيونه – کلمات په قرآن کریم کې ۳۲ ځلې راغلي او دا ددې نښه ده چې زکات له برکت سره مساوي دی. هو! د انګور د ونې د یوې ښانګې پریکول په ښکار د ونې لنډول دي؛ خو په رښتینه کې د ونې د ودې لاملېږي.

[1] (فروع کافي ۶۲/۴)

[2] (بحار ۶۲/۹۶)

[3] (الاعلی/۱۴)

په قرآن کريم کې راغلي:
يَمْحَقُ اللّهُ الْرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ[1] = خدای سود [سوکه سوکه] ناڅيزه [او بې برکته] کوي او صدقات [ = نبره ورکړې ] زيات [او برکتي ] کوي.
په روايتونو کې لولو: زکات د انسان روزي ډېروي. الزّکاة تزيد فی الرّزق.[2]

**الله تعالی ته گرانښت**

امام صادق رحمة الله عليه وايي: تر ټولو سخي کس، الله تعالی ته تر ټولو گران دی او هغه تر ټولو سخي دی چې د خپل مال زکات ورکړي او څه چې الله تعالی د ده په مال کې فرض کړي؛ نو له مومنينو سره بخل ونکړي[3].

---

[1] (بقره/۲۷٦)
[2] (جامع الأحاديث، ۹، /۵۲او ٦۹)
[3] (جامع الأحاديث، ۹، /٦۵۱)

## الله تعالی ته تقرب یا نژدیوالی

امام صادق رحمة الله علیه وایي: الله تعالی، له لمانځه سره مل زکات، الله تعالی ته تقرب وزله گرځولې ده.[1]

په قرآن کریم کې راغلي:

وَاكْتُبْ لَنَا فِي هَذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ إِنَّا هُدْنَا إِلَيْكَ قَالَ عَذَابِي أُصِيبُ بِهِ مَنْ أَشَاء وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ فَسَأَكْتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَالَّذِينَ هُم بِآيَاتِنَا يُؤْمِنُونَ[2]= او په دنیا او اخرت کې نېکي راولیکه؛ ځکه موږ ستا لوري ته درگرځېدلي یو. )) (خدای ددې غوښتنې په مقابل کې موسی ته) وویل: (( زه خو خپل عذاب چا ته چې وغواړم، وررسوم او زما رحمت پر هر څه خپور دی او هغوی ته به یې ژر ور پر برخه کړم، چې پرهېزگاري وکړي او زکات ورکړي او هغو کسانو ته چې زما پر آیتونو ایمان راوړي.

---

[1] جامع الأحادیث، ۹، /۳۳)

[2] (اعراف/۱۵٦)

وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللّهَ وَرَسُولَهُ أُوْلَئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّهُ إِنَّ اللّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ[1]= او مؤمنان او مؤمنانې يو د بل دوستان دي، پر ښو چارو امر او له بديو منع کوي او لمونځونه کوي او زکات ورکوي او د خدای او استازي يې اطاعت کوي، ژر به خدای خپل رحمت پرې ولوروي، په رښتيا چې خدای ناماتی حکيم دی.

إِنِّي مَعَكُمْ لَئِنْ أَقَمْتُمُ الصَّلاَةَ وَآتَيْتُمُ الزَّكَاةَ وَآمَنتُم بِرُسُلِي[2] = او الله تعالی (ورته) وويل: (( زه درسره يم )) که لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ او زما پر پيغمبرانو ايمان راوړئ.

**ستونزاواری**

په قرآن کريم کې راغلي:

---

[1] (توبه/۷۱)

[2] (مايده/۱۲)

فَأَمَّا مَن أَعْطَى وَاتَّقَى[1] = نو چا چې (د خدای په لار کې) ورکړه کوله او ځان ساتنه (او پرهېزګاري) يې وکړه.
وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَى[2]= او (په قيامت کې د) نېکۍ (د بدلې ژمنه) رښتينې وبلله،
فَسَنُيَسِّرُهُ لِلْيُسْرَى[3]= نو ژر به اسانه (لار) ورچمتو کړو،

**د ګناهونو کفاره**

حضرت علي کرم الله وجهه وايي: اللّه اللّه فى الزّكاة، فانّها تطفىء غضب ربّكم - د الله تعالى په پار د زکات په باب (ځيرنه) وکړئ چې همدا زکات د الله تعالى عضب سړوي.[4]
الله تعالى جلّ جلاله وايي:

---

[1] (ليل/٥)
[2] (ليل/٦)
[3] (ليل/٧)
[4] (وسايل ١٠/٦)

لَئِنْ أَقَمْتُمُ الصَّلاَةَ وَآتَيْتُمُ الزَّكَاةَ وَآمَنتُم بِرُسُلِي وَعَزَّرْتُمُوهُمْ وَأَقْرَضْتُمُ اللّهَ قَرْضًا حَسَنًا لَّأُكَفِّرَنَّ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ[1] = كه لمونځ وکړئ او زکات ورکړئ او زما پر استازیو ایمان راوړئ او ملاتړ يې وکړئ او خدای ته قرض الحسنه [ = په لار کې يې له بېوزلیو سره مرسته وکړئ] ورکړئ (؛ نو) زه درسره یم او ګناهونه مو ببښم.

[1] (مایده/١٢)

**له سزا خلاصېدنه**

که کفار توبه اوباسي، لمونځ وکړي او زکات ورکړي؛ نو ځان له سزا خلاصولای شي.

تَابُواْ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ وَآتَوُاْ الزَّكَاةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمْ[1]= نو که توبه وباسي او لمونځ وکړي او زکات ورکړي؛ نو لار يې ورخوشې کړئ.

**مړيو ته لارهواری**

امام صادق رحمة الله عليه وپوښتل شو: رور مې مړ شوی او ډېر زکات يې پر غاړه وه؛ هغه ټول مې ورکړ. امام صادق ورته وويل: په دې کړنې يې ستونزې هوارېږي[2].

**د دعا قبلېدنه**

---

(توبه/۵) [1]

( جامع الاحاديث ۲۲۳/۹) [2]

په يو روايت کې راغلي، که څوک غواړي چې دعا يې قبوله شي؛ نو خپله نوړۍ دې حلاله کړي او د نوړۍ د حلالو يوه لار د زکات او خمس ورکول دي. امام صادق رحمة الله عليه وايي: څه چې الله تعالی ستا د رزق لپاره ټاکلي او دهغې حق ورکړې؛ نو پاتې يې درته طيب او حلالېږي. «يطيب اللّه لکم بقيّته[1]»

**د لمانځه قبلېدل**

رسول الله صلی الله عليه و آله وسلم وايي: زکّوا اموالکم تقبل صلاتکم» د خپلو مالونو زکات ورکړئ، چې لمونځ مو قبول شي[2].

**د مالونو تلپاتېتوب**

[1] (جامع الاحاديث ۵۳/۹)
[2] (جامع الاحاديث ۵۳/۹)

زکات په رښتینه کې د قیامت زیرمه کیږي؛ نو نېستېدونی مال تلپاتې کوي. د زکات په ورکړه د دنیا ځلبلانده او لنډمهاله بریاوې، په غوځو او تلپاتې بریاوو اړولای شو.

**خوږ ژوند**

امام صادق رحمة الله علیه وایي: که خلک خپل حق ورکړي؛ نو په غوخ ډول به خوږ ژوند ولري. «لوانّ الناس ادّوا حقوقهم لکانوا عایشین بخیر[1]»

**سوکلی خوب**

په یو روایت کې راغلي: وویل شول، چې پلانکی په خوب کې له ستونزو او ناخوالو سره مخ دی. ورته وویل شول دا ځکه چې خپل زکات په سمه لار نه لګوي[2].

---

[1] (جامع الاحادیث ۲۷/۹)
[2] (جامع الاحادیث ۲۷/۹)

## د زکات ټولنیزې اغېزې

**روري**

قرآن کريم  په يو ځای کې وايي: مومنان يو د بل رونه دي.
[إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ[1]]

په بل ځای کې وايي: [فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ وَآتَوُاْ الزَّكَاةَ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ[2]= نو که توبه وباسي او لمونځ وکړي او زکات ورکړي؛ نو ستاسې ديني رونه دي.

نو د وروی شرط د توبې او لمانځه په څنګ کې د زکات ورکړه ده.

**د اړیکو ټینګښت**

د دوستۍ په آدابو کې سلګونه روايتونه راغلي. ښه نيت، نېک چلن، انصاف، لورنه، سرښندنه، سخاوت، احسان، مينه، زهد،

---

[1] (حجرات/۱۰)

[2] (توبه/۱۱)

زړه سوی، او ډالۍ د دوستۍ او د اړیکو د ټینګښت لامل دی، چې د زکات په ورکړه کې دا ټولې نښې نغښتې دي.

## د رخې او کینې ورکېدل

د زکات په ورکړه د نشتمنو کینه په مینه او دوستۍ بدلیږي او دا دوستي او مینه یو له بل سره په مرسته او ملګرتیا، د ښه او ډېر تولید او د اسلامي ټولنې د لاس ته راوړنو په ساتنه کې پاموړ ونډه لري.

## ډګر ته ګوښوالو راوړل

نشتمني او لوږه، انسان ګوښوالۍ، بدوینۍ، نهیلۍ او د سپکتیا منلو ته اړ باسي، که د زکات، خمس او نورو انفاقاتو په ورکړه کې د خلکو وټیز –اقتصادي ستونزاواری وشي؛ نو په بېلابېلو ډګرونو کې به د خلکو هاندوهڅې، خوښي، زړه سوی او ګډون ډېر شي.

## د خلکو د ديني ستهې پياوړتيا

په يو روايت کې راغلي: د زکات د ورکړې دليل او فلسفه د نشتمنو او بېوزلو پياوړي کول او په ديني چارو کې يې مرسته او بيا ځواکمني ده.[1]

د زکات په مټ ښوونځي، کتابتونونه، جوماتونه، او نور ديني او هڅوبيز – فرهنگي مرکزونه جوړولای شو او يا داچې واردمخه دا شان جوړ شوي بنستهونه پرې پراخولای شو او د نورو سيمو د ديني کارپوهانو، علماوو او استادانو د بلنې له لارې د خلکو علمي او گروهيزه – اعتقادي ستهه پياوړې کولای شو.

## په ټولنه کې د همدلۍ رامنځ ته کېدل

د زکات ورکړه، زړونه رانږدې کوي او ټولنه ستونزاوارۍ ته چمتو کوي. که بيوزلي د شتمنو په گټه کې ځان شريک

---

[1] (وافي ۱۵/۱۰)

وګټې؛ نو پخپل ټول توان او وس به د ناخوالو او ستونزو په هوارۍ کې هاندوهڅې ګړندۍ کړي.
زکات ورکوونکی د پاک الله تعالی پر رضا او د مانیزو – معنوي او اخروي برکتونو سربیره د نورو زړونه په ځان راماتوي او په ټولنه کې د ګرانښت او منښت له کبله په بېلابېلو چارو کې د خلکو له ملاتړه برخمن وي.
هو! ځینې د جماداتو په پېرېدنې (کور، موټر، پوله پټی، قالینې، جامې او. . . . ) پانګونه کوي، چې په دې توګه د خلکو زړونه رامات کړي؛ خو داچې د خلکو زړونه د الله تعالی په لاس کې دي؛ نو په ټولنه کې خلک له داسې خلکو کرکجن وي. هغه کسان چې د خپلې شتمنۍ لږه برخه (د جماداتو پر ځای) د انسانانو ژغورنې، د هېرو شویو استعدادونو په وده او خلکو ته د ورهنې – کسب و کار په زده کړه کې لګوي؛ نو نه یوازې له دې نږه بسپنو د لاس ته راغلیو په ټولو ارزښتونو او اجرونو کې شریک دی؛ بلکې د خلکو مینه او ملاتړ به هم ورسره وي. دلته باید ځیر شو، چې

ایا لومړی ډله عقلمنه ده، چې د جماداتو په پېژندنې، ځان د خلکو او خالق د کرکې جوگه گرځوي او یا دویمه هغه ډله، چې د الهي حق په ورکړه، ځان الله تعالی ته نږدې کوي. هو! شتمن کولای شي چې په دې دوو لارو کې د یوې لارې په ټاکنې، خپله وړتیا او عقل وازمېیي.

## د پاک کهول روزنه

د ارواپوهنې او روزنې په ډېرو کتابونو کې د روزنې مرکزي زنې ته لږه پاملرنه شوې، چې هغه د مېرمنې ټاکنه او حلاله نوړی ده. اسلام د گاندې – راتلونکي کهول رزونې او د مېرمنې ټاکنې او بیا د حلالې نوړی پر ونډه ډېره ځیرنه او ټینگار کړی.

د زکات ورکړه د رزق د پاکوالي او حلالوالي لامل دی. حلاله نوړی په ټولنه او گانده کهول کې پاموړ ونډه لري او هغه داسې چې وگړي خیر ښېگڼې ته ورماتوي او له بدیو یې لرې کوي.

**له امته د بلا لرې کېدل**

وَلَوْلاَ دَفْعُ اللّهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الأَرْضُ وَلَكِنَّ اللّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْعَالَمِينَ[1]=. که خدای د ځينو خلکو مخنيوی په ځېنو نورو نه کولای؛ نو ځمکه فساد نيوه؛ خو الله تعالی پر نړيوالو لورنه لري.

نشتمني او لوږه او نورې نيمګړتياوې د ټولنې له مهمو ستونزو څخه دي او ورسره د جنګ جګړې – مبارزې يوه لار د زکات، خمس او نورو انفاقاتو ورکړې ته ټينګه پاملرنه ده.

حضرت علي کرم الله وجهه وايي: «فما جاع فقيرٌ الاّ بما منع غنی و اللّه سبحانه و تعالی سائلهم عن ذلك» هيڅ بېوزلی به وږی پاتې نشي، مګر ددې له امله چې شتمن د الله تعالی

[1] (بقره/۲۵۱)

حق نه ورکوي او د قيامت پر ورځ به ترې الله تعالی د همدې دليل له مخې پوښتنه وکړي[1]

[1] سفينة البحار ۳/ ۴۷۴)

## زکات ته د شا کولو نښې

### د مالونو بربادېدنه

امام صادق رحمة الله علیه وایي: «ما ضاع مال فی البرّ و لاالبحر الاّ بتضییع الزّکاة» په وچه یا سمندر کې یو مال هم نه ضایع کېږي؛ خو ددې له کبله چې زکات یې نه وي ورکړل شوی[1].

### دوه گرایه تاوان

په روایتونو کې راغلي: «من مَنَعَ حقّاً للّه أنفق فی باطل مثلیه» څوک چې د الله تعالی حق ورنکړي او په حق لار کې خپل مالونه و نه لګوي؛ نو په باطله لار کې به یې دوه ګرایه ولګوي[2].

---

[1] ( جامع الاحادیث ۹/ ۵۰)

[2] (وافي ۱۰/ ۴۲)

**د اشرارو په لار کې لګښت**

رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وايي: «من مَنَعَ ماله من الأخيار اختياراً صرّف اللّه ماله فى الأضرار اضطراراً» څوک چې د ښو کسانو په لار کې پخپل اختيار د خپل مال د مصرف مخنيوی وکړي؛ نو الله تعالی به يې مال د اشرارو په لار کې په زوره ولګوي[1].

**د ګناه په لار کې لګښت**

امام صادق رحمة الله عليه وايي: «و اعلم أنه من لم ينفق فى طاعة اللّه ابتلى بان ينفق فى معصية اللّه و من لم يمش فى حاجة ولىّ اللّه ابتلى بان يمشى فى حاجة عدوّ اللّه» خبر اوسئ څوک چې خپل مال د الله تعالی د اطاعت په لار کې و نه لګوي؛ نو له الله تعالی څخه د ګناه په لار کې پر لګولو به يې بوخت شي او څوک چې د الله تعالی د ولي ستونزې

[1] (بحار ۹۶/ ۱۳۰)

هوارې نکړي؛ نو الله تعالی به يې د الله تعالی د دښمنانو د ستونزاوارۍ په لار کې پر هڅې او حرکت باندې اخته کړي.[1]

## سوکړه – قحطي

رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وايي: «لاتزال امّتى بخير ما تحابّوا و اقاموا الصلوة و اتوا الزّكاة فاذا لم يفعلوا ذلك ابتلوا بالقحط و السنين» چې امت مې يو له بل سره دوستي ولري، لمونځ وکړي او زکات ورکړي؛ نو په نېکمرغۍ کې به وي او که داسې نه وي؛ نو په سوکړې به اخته شي[2].

---

[1] (وسايل ٢٥/٦)

[2] ( جامع الاحاديث ٩/ ٤٨)

## د ديني مرکزونو له جوړولو بې برخې کېدنه

قرآن کریم وايي:

إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللّهِ مَنْ آمَنَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلاَةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلاَّ اللّهَ فَعَسَى أُوْلَئِكَ أَن يَكُونُواْ مِنَ الْمُهْتَدِينَ[1]= د خدای جوماتونه یوازې هغوی ابادوي، چې پر خدای او د قیامت پر ورځ ایمان لري او لمونځ یې پرځای کړی وي او زکات یې ورکړی وي او بې له خدایه له بل چا نه وي ډار شوی؛ نو هیله ده، چې همدوی به له لار موندوونکیو څنې وي.

## له ځمکې د برکت اخوا کېدل

رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وايي: «اذا مُنِعَت الزکاة مَنَعت الأرض برکاتها» چې زکات ورنکړل شي؛ نو ځمکه له خلکو خپل برکتونه اخلي.[2]

---

[1] (توبه/۱۸)

[2] ( جامع الاحادیث، ۹/ ۵۲)

په يو بل روايت کې راغلي: که شتمن د خپل مالونو زکات ورنکړي؛ نو الله تعالی به پر خپلو خلکو د لورنې ورښت ونکړي.[1]

په يو بل روايت کې راغلي: که زکات ورنکړل شي؛ نو د کرنې، مېوو او کانونو برکت به نه وي.[2]

په بل روايت کې راغلي: «اذا حُبست الزکاة ماتت المواشی» که زکات ورنکړل شي؛ نو څاروي به مړه شي.[3]

## له رحمته بې برخيتوب

امام صادق رحمة الله عليه وايي: څوک چې په خپل مال کې د الله تعالی حق ورنکړي؛ نو دا کس ددې وړ گرځي، چې الله تعالی يې له خپل رحمته بې برخې کړي.[4]

---

[1] (جامع الاحاديث ۹/ ۵۲)
[2] (کافي ۲/ ۳۷۴)
[3] (جامع الاحاديث ۹/ ۵۳)
[4] (جامع الاحاديث ۹/ ۵۷)

**له جوماته يې ايستل**

يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه و آله وسلم جومات ته راننوت او په «قم يا فلان، قم يا فلان، قم يا فلان» غونډلو – جملو يې پنځه كسه له جوماته وويستل او ويې ويل: تاسې چې زكات نه وركوئ، له جوماته ووځئ.[1]

قرآن كريم وايي:

وَإِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوعًا[2] = او چې ښېګڼه وروړسي (نورو ته د ګټې رسولو) خنډ ګرځي (او كنجوسي كوي)،

إِلَّا الْمُصَلِّينَ[3]= خو بې له لمونځ كوونكيو (چې له دې نيمګړتيا ژغورل شوي دي)،

الَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَاتِهِمْ دَائِمُونَ[4]= هغوى چې تل خپل لمونځونه كوي؛

---

[1] ( جام الاحاديث ۹/ ۳۱)

[2] (معارج/۲۱)

[3] (معارج/۲۲)

[4] (معارج/۲۳)

وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُومٌ[1]= او هغوی چې په مالونو کې یې یو ټاکلې برخه وي،

**د نفاق نښه**

قرآن کریم ، منافقین داسې انځوروي:

الْمُنَافِقُونَ وَالْمُنَافِقَاتُ بَعْضُهُم مِّن بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمُنكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوفِ وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْ نَسُواْ اللّهَ فَنَسِيَهُمْ إِنَّ الْمُنَافِقِينَ هُمُ الْفَاسِقُونَ[2]= منافقان او منافقانې یو د بل (په څېر) دي (ډله یې یوه ده)! هغوی پر بدیو امر کوي او له نېکیو منع کول او خپل لاسونه (له نفقې ورکولو او بخششه) موټی کړي ساتي، خدای یې هېر کړی دی او خدای (هم) دوی هېر کړل (او خپل رحمت یې پرې نیولی دی) په رښتیا، چې منافقان سرغړاندي دي.

---

[1] (معارج/۲۴)

[2] (توبه/٦٧)

**د لمونځ او عبادتونو نه قبلېدل**

په روایتونو کې راغلي: «ايّها النّاس ادّوا زکاة اموالکم فمن لا يزکیّ لا صلوة له و من لا صلوة له لا دين له» د ټولو کړنو قبلېدل د لمانځه په قبلېدلو پورې اړه لري او د لمانځه قبلېدل د زکات په ورکړې پورې اړه لري[1].

موسی علیه السلام یو زلمی ولید چې ښکلی لمونځ کوي، الله تعالی ته یې وویل: څومره ښکلی لمونځ کوي! موسی علیه السلام ته وحی وشوه، لمونځ یې ښکلی دی؛ خو یو بخیل زلمی دی او زکات نه ورکوي او چې زکات ورنکړي؛ نو لمونځ یې نه قبلېږي.

رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وایي: څوک چې زکات نه ورکوي او لمونځ نه کوي؛ نو د زړو راټولو کړای شویو جامو په څېر دا لمونځ د لمونځګذار پر مخ بېرته وراچول کېږي.[2]

---

[1] (جامع الاحاديث ۳۰/۹)

[2] ( جامع الاحاديث ۹/ ۳۰، ۳۳)

## د ربا خور په څېر

حضرت علي كرم الله وجهه وايي: «مانع الزّكاة كآكل الرّبا» د زكات نه وركوونكى د ربا خوار په شان دى[1].

## د زكات لګول

د زكات لګول بايد دقيق، پخپل ځاى او هغو ځايونو كې وي، چې الله تعالى يې حكم كړى وي.

قرآن كريم د زكات د مصرفولو اته ځايونو بيانوي:

إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاء وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللّهِ وَاللّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ[2] = زكاتونه يوازې ځانګړي شوي دي: فقيرانو او مسكينانو او د زكات د راټولولو

---

[1] ( جامع الاحاديث ٩/ ٦٣)

[2] (توبه/٦٠)

کارکوونکيو او هغوی ته چې د زړونو لاس ته راوړل يې موخه وي او (همداراز) د مريانو (ازادولو) له پوروړو سره د مرستې او د خدای د لارې غښتلتيا او مسافر پالنې ته. دا (زکات) يو (مهم) الهي فرض دی او خدای پوه حکيم دی.
پورتني آيت ته پامنيوي، زکات په اتو ځايونو کې د مصرف وړ دی:

**لومړی او دويم: لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ**

امام صادق رحمة الله عليه د فقير او مسکين په توپير کې وايي: فقير هغه اړمن دی، چې له نورو د مرستې غوښتنه نه کوي؛ خو مسکين هغه دی، چې د فقر د دباو له کبله خلکو د مرستې غوښتنه کوي.[1]
داچې امام صادق رحمة الله عليه د فقير په اړه وويل، چې هغه څوک دی، چې سوال نکوي؛ نو ښايي دليل يې د بقرې دا لاندې آيت وي:

---

[1] (وافي، ۱۰/ ۱٦۴۰)

لِلْفُقَرَاء الَّذِينَ أُحصِرُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ لاَ يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِي الأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاء مِنَ التَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُم بِسِيمَاهُمْ لاَ يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا وَمَا تُنفِقُواْ مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللّهَ بِهِ عَلِيمٌ[1] = (ستاسې نفقه په تېره بايد) هغو اړمنو ته وي، چې د خداى په لار کې تنګلاسي شوي وي؛ (او پر حق دين د ايمان راوړو له امله له خپلو سيمو شړل شوي او په جهاد کې ګډون اجازه نه ورکوي، چې د خپل ژوند د لګښت پوره کولو لپاره په ورهنې او سوداګرۍ لاس پورې کړي)، مسافرت ته نشي تلاى (چې پانګه تر لاسه کړي) او د هغوى د سختې استغنا په ليدو بې خبره خلك پرې د شتمنو ګومان کوي؛ خو له څېرو يې پېژندل کېږي او کله هم په ټينګار له خلکو څه نه غواړي (دا يې ځانګړنې دي) او هر ښه څيز، چې د خداى په لار کې خيرات کړئ؛ نو په حقيقت کې خداى پرې ښه پوه دى.

---

[1] (بقره/٢٧٣)

پاتې دې نشي، چې د فقیروالي او مسکینوالي شرط بېکاري نه ده، ځکه ښايي ډېرى داسې کار او دنده درلودونکي کسان وي، چې ګټه وټه يې د ژوند لګښتونه نشي ورپوره کولاى.
هغه بېړۍ چې حضرت خضر سورۍ کړه؛ نو قرآن کريم يې په باب وايي:
أَمَّا السَّفِينَةُ فَكَانَتْ لِمَسَاكِينَ يَعْمَلُونَ فِي الْبَحْرِ[1]= خو هغه بېړۍ د څو تنو بېوزلیو وه، چې په سمندر کې يې کار کاوه.
د فقر له منځه وړنه، اسلام د زکات د مصرفولو په لومړيت کې ايښې ده.
قرآن کريم وايي: په قيامت کې به جنتيان، دوزخيان وپوښتي، څه مو د دوزخي کېدو لامل شو؟ دوى به ووايي: [وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِينَ[2] = او بېوزلیو ته مو خواړه نه ورکول.]

[1] (کهف/۷۹)
[2] (مدثر/۴۴)

ان که انسان مال او شتمني هم ونلري؛ نو بيا هم د نشتمنو پر وړاندې بې پروا کېدلای نشي او نور کسان بايد مرستې ته وهڅوي او که نه و به رټل شي. [ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ الْمِسْكِينِ[1] ] [وَلَا تَحَاضُّونَ عَلَىٰ طَعَامِ الْمِسْكِينِ[2]]= او يو بل بېوزلو ته د خوړو په ورکولو نه هڅوئ.

قرآن کريم د لوږو او نشتمنو لاسنيوى د ازمېښت له هسکو څوکو تېرېدل گڼي. [فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ[3] = خو انسان هغه ستغ ستونځ (هسکه څوکه) سر نه کړ. ]

لوږو ته پاملرنه يوازې په مسلمانو لوږو پورې ځانگړې نه ده، بلکې د ټولنې ټول کسان بايد ماړه شي. د کعبې تر جوړولو روسته ابراهيم عليه السلام پخپله دعا کې وويل:

وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَـٰذَا بَلَدًا آمِنًا وَارْزُقْ أَهْلَهُ مِنَ الثَّمَرَاتِ مَنْ آمَنَ مِنْهُم بِاللَّـهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ. قَالَ وَمَن كَفَرَ

---

[1] (مدثر/۴۴)

[2] ( فجر/۱۸، حاقه/۳۴)

[3] (البلد/۱۱)

فَأُمَتِّعُهُ قَلِيلاً ثُمَّ أَضْطَرُّهُ إِلىَٰ عَذَابِ النَّارِ. وَبِئْسَ الْمَصِيرُ[1] =
او(درياد کړئ ) هغه وخت، چې ابراهيم وويل: ((پالونکيه !
دا [مکه] د امن ښار کړه او هستوګنو، ته يې چې پر خدای او
قيامت ايمان لري (ډول ډول) مېوې روزي کړه. ))و يې ويل:
(( ( ستا دعا مې قبوله کړه او مؤمنان مې له ډول ډول برکتونو
برخمن کړل؛ ) او چې څوک کفر خپل کړي، ډېر لږ يې
برخمنوم، بيا يې د اور عذاب ته راکاږم او (څه) ناوړه عاقبت
دی!)).

---

[1] (بقره/١٢٦)

**درېیم:** (( وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا )) **د زکات د راټولو کارکوونکي**
هغوی چې د زکات د مالونو د راټولونې، ساتنې او وېش په لار کې هاندوهڅې کوي؛ نو دوی هم د زکات له مصرفوونکیو څنې دي.

**څلورم:** ((وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ)) **هغوی ته چې د زړونو لاس ته راوړل یې موخه وي**
د زکات یوه برخه باید د اسلام د فرهنګ په خپرولو او د نېکو اړیکو او د زړونو د لاس ته راوړنې له لارې اسلام ته د نورو د بلنې په لار کې ولګول شي. وایي چې هر متاک غوز ګرد دی، خو هر ګرد څیز، متاک غوز نه دی. هر مومن، مسلمان دی؛ خو هر مسلمان، مومن نه دی. ډېری کسان مسلمانان وي، یعنې له شرکه لرې وي او د توحید په مدار کې وي؛ خو دوی د ایمان په کمزروي پړاو کې وي. داچې اسلام ددې کسانو لاسنیوی وکړي او پورته پړاوونو ته یې بوزې؛ نو یو لړ کړلاری یې اوڅار – مطرح کړي، چې د زکات یوه برخه باید

د دوی د ژوند د پراختیا په موخه ولګول شي، چې ددې کړنې له لارې پکې د معرفت او ښاندې – شناخت ځای ونیسي.
څوک چې د اسلام له لارې ګرم کړای شوی وي؛ نو د مینې په مټ باید پاخه شي، دا ځکه هر ګرم کړای شوی، بېرته سړېږي؛ خو هر پوخ کړای شوی، بېرته نه خامېږي.
چا چې اسلام راوړی [يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ] نو په داسې چلنونو او مینو، اسلام دهغوی په دننه کې ځای نیسي.
هو! څوک چې اسلام ته ورننوتل او د چا چې په روح کې اسلام او ایمان ورننوت؛ نو په دې دواړو کې توپیر دی.
نن زبرځواکونه د کتابونو، کشیشانو، کارپوهانو، بلنلیکونو، بورسونو، علمي او فني پلاوو او په نورو سلګونو لارو د خپل فکر او واک د پراختیا په موخه خپل سیوری یې پر نورو هېوادونو ورخپور کړی، سفرونه یې کړي، غونډې یې کړي، دسیسې یې جوړې کړي، خلک یې په پیسو اخستي، د سیلانې په نامه زموږ په خاوره کې لېښت په لېښت ګرځېدلي.
سره له دې چې مسلمان د ګرځېدو او سفر، هجرت، تبلیغ او

له زانگو تر لهده، له ختیځه تر لویدیځه د پوهې لپاره په لسگونو احکام لري؛ خو په خواشینۍ چې دا مسلمان د غفلت په خوب ویده دی.

**پینځم: ((فِي الرِّقَابِ)) د مریانو آزادول**

د زکات یوه برخه د مریانو د آزادولو لپاره ده. د تاریخ په اوږدو کې نښتې، جگړې، وژنه او نیونه وه او څه چې مهم دي، ددې جگړو د پایلو، موخو او سرچینو څېړنه ده. اسلام د جهاد او ابتدايي جگړې انگیزه، د فتنې لرې کول او حق ته د خلکو د بلنې په لار کې د خنډونو لرې کول گڼي او د بندیانو په گډون یې د جگړې ټولو چارو ته سترې، لوړې او حکیمانه کړلارې او آداب ټاکلي دي.

**شپږم: ((الْغَارِمِينَ)) پوروړي**

د زکات یوه برخه دهغو پوروړو لپاره ده، چې د خپل پور د ورکونې توان نلري. رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم

وايي: «ايّما مؤمن او مسلم مات و ترك دَيناً لم يكن فی فساد و لا اسراف فعلى الامام ان يقضِه فان لم يقضه فعليه اثم ذلك» پر اسلامي امام او واکمن لازم دي، چې د زکات له برخې دهغو کسانو پور ورکړي چې پور يې د اسراف او فساد لپاره نه وي او که داسې ونکړي؛ نو گناهگار به وي.[1]

که په هر يو الهي حکم په سمه توگه عمل وشي؛ نو د ټولنې ستونزاوارى به وشي. عليم او حکيم الله تعالى د خپل بې پايه حکمت او پوهې له مخې حکم کړى، چې د زکات يوه برخه دې پوروړو ته ورکړل شي. هغه پوروړي، چې نن د زکات اخستونکى دى دهغه زنگ وهلې کابلې يا نټ په خبر دى، چې که لږ هم غوړ راغوړ شي؛ نو بېرته په کار پېلوي او خپل اقتصادي کارونه بېرته له سره پېلوي او ښايي ډېر ژر خپله هم له زکات ورکوونکيو څنې شي.

## شپږم: ((فِي سَبِيلِ اللّهِ)) د الله تعالى د لارې غښلتيا

[1] (جامع الاحاديث ۹/ ۲۵۹)

د زکات د مصرفولو بله لار، هغه ټول ګټې کارونه دي، چې الهي رنګ ولري، يعنې داچې دا کارونه الله تعالی خوښي او د خلکو د عمومي ګټې لپاره وي، بېلګې يې دا دي: د ښوونځيو، جوماتونو او نشتمنو ته کورونه جوړول، د پلونو او کلينکونو جوړول، د زلزله ځپلو او جنګ ځپلو مرسته، د کتابتونونو او اسلامي تبليغاتو او خپرونو مرسته، د مسلمانو ترمنځ سوله او جوړجاړی، بې کارو ته کارموندنه، تخصص نه درلودونکيو ته د ورهنې – کسب و کار زده کړه او داسې نور.

د اسلام د دين له امتيازانو څنې دا دي، چې کله هم ځنډونه نلري او د رسمي او ځانګړو کارونو په څنګ کې نور خپلخوښي او آزاد کارونه هم پريښي، چې دا دي:

د فرض لمونځونو په څنګ کې مستحبي لمونځونه هم ايښي دي.

که د حج سفر په ځانګړو ورځو کې وي؛ نو د عمرې سفر په هره مياشت کې جايز دی.

که روژه د رمضان په میاشت کې رسمي وي؛ نو د کال په پاتې ورځو( بې د کمکي او لوي اختره) کې ثوابي روژه نیول اختیاري ده.

که زکات او خمس په ځانګړي مقدار کې واجب شوی؛ خو بیلابیلې صدقې او انفاقات د ورکوونکیو په ارادې او شرایطو پورې اړه لري.

که د زکات په مصرف کې د پوروړیو، مریانو، فقیرانو او د زکات د کارمندانو نومونه راغلي؛ خو ((فِي سَبِیلِ اللّٰهِ)) د انسان لاس پرانستی پریښی، چې هر ډول الله تعالی خوښی کار هم کولای شي.

ممکن په یو وخت کې د اوبو د زېرمې جوړول یو الله تعالی خوښی کار وي او په بل وخت کې د اوبو د پایپونو لګول.

ممکن په یو وخت کې د کتاب چاپول الله تعالی خوښی کار وي او په بل وخت کې کوم بل کار؛ نو د ((فِي سَبِیلِ اللّٰهِ)) عبارت د هر خیر کار رانغاړي.

**اتم: ((ابْنِ السَّبِيلِ)) مسافرپالي**

((ابْنِ السَّبِيلِ)) يعنې د لارې زوی، يعنې هغه کس، چې پخپل وطن کې بېوزلی نه دی؛ خو نورو سيمو ته په سفر کې د تکر، غلا، ناروغی، گرانی، او يا بل لامل له کبله مرستې ته اړمن وي او که لاسنيوی يې ونشي؛ نو ژوند او پت يې له خطر سره مخ کيږي. يو خوا مالي اړتيا او له وطنه د لرېتوب ننگېرنه او بلخوا ورباندې ځانگړې ارزايز او رواني دباو راځي.

د اسلام ژوندی ښوونځی، چې پخپلو ټولو کړنلارو کې د خلکو وگړې – شخصيت، مال او پت ته ځانگړې پاملرنه کړې؛ نو دلته د زکات د يوې برخې د ځانگړې کوونې له لارې، هم د داسې خلکو پت خوندي ساتي او هم يې پريشاني لرې کوي.

## په ټولنه کې فقيران ولې وي؟

فقر يا نشتمني ډولونه لري: کله د ناغيرې له کبله وي. کله هم د ناپوهی له کبله وي. کله هم د سپکاوی او ځان ته د تيتې

کتنې له کبله وي. کله په پنځيز –طبيعي ډول وي. کله هم په ټاکنيزه – انتخابي بڼه وي. په کوم ځای کې چې ناغيړي، ناپوهي، سپکاوی، ښکېلاک، او ربېښاک – استعمار او استثمار د نشتمنۍ جرړه وي؛ نو اسلام پرې نيوکه کړې؛ خو په کوم ځای کې چې نشتمني په ټاکنيزه بڼه وي؛ يعنې انسان ساده او زاهدانه ژوند ټاکي، چې د شتمنۍ په راټولونې، د مال په ساتنې او بخل او حرص ککړ نشي، د اسلام له نظره دا نشتمني يو ډول ارزښت دی. څه چې په زکات پورې تړاو مومي، هغه طبيعي نشتمني ده، يعنې يو کس خپله ټوله هڅه کړې؛ خو د بېلابېلو دلايلو له مخې يې گټه وټه د ژوند لگښتونه پوره کولای نشي او يا له آره د کار او هڅې شونتيا نشته، يا داچې دا کس له کاره لوېدلی او يا داچې د کور پالندوی –سرپرست د يوې پېښې يا طبيعي مړينې له کبله مړ شوی او کورنۍ يې گټه وټه نلري. دا ډول نشتمني د ناغېړۍ، ناپوهۍ، سپکاوۍ، ښکېلاک او زبېښاک له کبله نه ده. دلته پر فقير او غني دواړو يو ډول الهي ازمېښت دی، چې فقير

ځومره زغم کوي او غني څومره ښندنه کوي. ددې ډول نشتمنۍ د هوارۍ لپاره اسلام خمس، زکات، انفاق، او داسې نور حکمونه کړي دي.

نو له دې مخې څوک نشي ویلای، چې دیني غونډال – نظام په پیل کې ټولنه په دوو قطبونو فقیر او غني ویشلې او بیا د انفاق، خمس او زکات په ورکړه سپارښتنه کوي، بلکې دا یو طبیعي چار دی، چې د استعدادونو د توپیر؛ نوښتونو، او کله هم د الهي حکیمانه مقدارتو له مخې ټولنه پر دوو ډلو ویشل کیږي؛ خو دا توپیرونه د فرضو او یا هم مستحبو حکمونو له لارې جبرانیږي.

## هغه کسان چې د زکات په اخستو کې لومړیت لري

په قرآن کریم کې راغلي:

قُلْ مَا أَنفَقْتُم مِّنْ خَيرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ[1]= څه چې ورکوئ؛ نو تر هر چا مخکې خپل مورو‌پلار په پام کې ونیسئ، ان که وصیت کوئ؛ نو تر هر چار مخکې مورو‌پلار او خپلو خپلوانو ته یې ورکړئ. [تَرَكَ خَيْراً الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالأَقْرَبِينَ[2]]

دا د اسلام شعار دی: (( لا صدقة و ذو رحم محتاج)) که خپلوان مو لاس اړي وي؛ نو له نورو سره ستاسې مرسته ارزښت نلري[3]

---

[1] (بقره/۲۱۵)

[2] (بقره/۱۸۰)

[3] ( بحار ۷۷/ ۵۹)

## متقي ايمانوال

په روايتونو کې راغلي، چې مومنينو ته بايد ډېر مقدار ورکړل شي؛ خو نا اهل او فاجر ته بايد لږ مقدار ورکړل شي، ځکه مومن به دا مرسته د الله تعالی د اطاعت په لار کې او فاجر به يې د الله تعالی د معصيت په لار کې ولګوي. «لانّ المؤمن ينفقها فی طاعة اللّه عزّ و جلّ و الفاجر فی معصية اللّه عزّ و جلّ[1]»

هو! له متقيانو سره مرسته د خير او برکت په پراختيا کې يو ګام دی او د نا اهلو مرسته د فساد او تباهی په خپرولو کې يو ګام دی.

---

[1] (بحار ۵۹/۷۷)

**پتمن**

قرآن کريم وايي:

لِلْفُقَرَاء الَّذِينَ أُحصِرُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ لاَ يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِي الأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاء مِنَ التَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُم بِسِيمَاهُمْ لاَ يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا وَمَا تُنفِقُواْ مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللّهَ بِهِ عَلِيمٌ[1]=

(ستاسې نفقه په تېره بايد) هغو اړمنو ته وي، چې د خدای په لار کې تنګلاسي شوي وي؛ (او پر حق دين د ايمان راوړو له امله له خپلو سيمو شړل شوي او په جهاد کې ګډون اجازه نه ورکوي، چې د خپل ژوند د لګښت پوره کولو لپاره په ورهنې او سوداګرۍ لاس پورې کړي)، مسافرت ته نشي تلای (چې پانګه تر لاسه کړي) او د هغوی د سختې استغنا په ليدو بې خبره خلك پرې د شتمنو ګومان کوي؛ خو له څېرو يې پېژندل کېږي او کله هم په ټينګار له خلکو څه نه غواړي ( دا يې ځانګړنې دي) او هر ښه څيز، چې د خدای

---

[1] (بقره/۲۷۳)

په لار کې خیرات کړئ؛ نو په حقیقت کې خدای پرې ښه
پوه دی.

# دویم برخه؛

# په پينځګونو مذاهبو کې د زکات فقهي احکام

## زکات

زکات دوه ډوله دی: د مال زکات او د ځان زکات. دیني پوهانو پرېکړه کړې، چې بې نیته د زکات ایستل سم ندي؛ خو د زکات د واجب والي شرطونه په لاندې ډول دي:

**د مالونو د زکات شرطونه:**

۱_ احنافو او امامیه وو ویلي: عقل او بلوغ د زکات پر واجب والي کې شرط دي؛ نو پر لېوني او ماشوم زکات نشته.[۱]

مالکي، حنبلي اوشافعي ډلې وایي: عقل او بلوغ شرط ندي؛ نو د لېوني او ماشوم پر مال زکات شته، او د ولي پر غاړه دي، چې هغه وباسي.

۲_ احنافو، شافعیه وو او حنبلیه وو ویلي: پر کافر زکات واجب نه دی.[۲]

---

[۱] د احنافو په اند عقل او بلوغ په کښت او مېوه کې د اعتبار وړ نه دي.

[۲] الفقه علی المذاهب الاربعه.

او اماميه وو او مالکيه وو ويلي: بې له څه توپيره وربانديې واجب دی، همغه ډول لکه څنګه چې پر مسلمان واجب دی.

۳_ د زکات د واجب والي شرط د مال څښتن والی دی، او د مال د تماميت په تعريف کې هر مذهب ځانته اوږدې خبرې کړې دي، او د ټولو ترمنځ هر اړخيزه قول دا دی، چې د مال څښتن خپل مال په خپل واك کي ولري؛ يعنې په لاس کې يې مال داسې وي، چې هر ډول لاس وهنه او ګروت ته کول پکې وکولای شي؛ نو پر ورك شوي مال زکات نشته او همدارنګه پر هغه مال زکات نشته، چې په زور يې له څښتنه تر لاسه کړی وي، که څه، دا مال د هغه په ملکيت کې وي؛ لکه پور، که مال په پور او يا پرته له هغه د پور وړي په لاس کې وي، زکات پرې نه کيږي، څو ترې يې اخستی نه وي؛ لکه د ښځې مهر، چې ټول د مېړه پر غاړه دی؛ ځکه دا ښکاره ملك نشي کېدای، څو تر لاسه کړی يې نه وي او که په خپله پوروړی وي د هغه حکم روسته راځي.

٤_ پر مال د قمري کال تېرېدل، پرته له غلو دانو، مېوو او کانونو، چې څېړنه يې روسته راځي.

۵_ د نصاب درجې ته رسېدل، د ډولونو د څرنګوالي اندازې، چې زکات وربانديې واجبېږي، مختلفې دي، چې په مفصله توګه به يې ولولئ.

٦_ يو سړی چې پوره وړی دی، او هغه مال چې د نصاب درجې ته رسېدلی، په واك کې يې دی، ايا زکات پرې واجب دی، که نه؟ يا په لنډ ډول: پور د زکات مخه نيسي، او که نه؟

اماميه وو او شافعيه وو ويلي: له پور خلاصون شرط نه دی، هر څوك چې پوره وړی دی، زکات پرې واجب دی او ان تردې چې که پور ټول نصاب ونيسي هم؛ بلکې اماميه وو ويلي: که يوه سړی پو شي چې زکات يې واجب دی، پور واخست او يو کال ور سره پاتې شو، پور اخستونکي بايد د هغه شي زکات وباسي.

حنابله وايي: پور د زکات مخه نيسي؛ نو هر پوره وړي، چې مال هم ولري، بايد لومړی خپل پور ورکړي، که د نصاب په انډول نور پاتې شو، زکات دې يې ورکړي، او که پاتې نشو، په نه ورکولو يې ګرم ندی.

مالکیه وو ویلي: د سرو او سپینو د زکات ورکولو مانع پور دی، او د غلو دانو او رمو ګلو او کان مخه پور نشي نیولای؛ نوځکه د سرو او سپینو د نصاب په انډول پور ادا کول واجب دي، چې باید وریې کړي، او پر هغوی زکات نشته؛ خو که پوروړی وي او له سرو او سپینو پرته د نصاب په اندازه مال ولري، باید زکات یې ورکړي.

احنافو ویلي: که پور د حق الله پر غاړه وي، او څوك یې بېرته و نه غواړي؛ لکه داچې حج یا کفاره د چا پرغاړه وي، له زکاته نشي اړولای، او که پور د خلکو حق دي او یا د خدای پاك چې غوښتونکی لري؛ لکه د مځکېنیو مسلمانانو مشرانو به چې زکاتونه ځان ته ټولول، دغه ډول پورونه او دې ته ورته تر کرهنیزو محصولاتو او مېوو پرته د زکات د مخنیوي سبب ګرځي.

ټول مذهبونه په دې ټکې سره یوه خوله شوي: چې پر ګڼو، قیمتی دانو، همدارنګه پراستوګن، ځایونو د اغوستن کالیو، د کور لوښي او فرش، د سپرلۍ څاروی، وسله، او کتابونو چې د ضرورت وړ شیان دي، زکات نشته.

امامیه وو ویلي: د سرو او سپینو زرو په ښښتو؛ یعنې غیر زېوري شکلونو زکات نشته، چې لږ روسته به یې تفصیل ولولی.

**هغه مالونه چې زکات یې واجب دی:**

قرانکریم نشتمن د شتمنو پر مالونو کې رښتني شریکان ګڼلي دي او د الذاریات د سورت په ۱۹ آیت کې یې فرمایلي: "و فی اموالهم حق للسائل والمحروم" یعنې " " په مالونو کې یې ټاکلې برخه د سوالګر او بېنوا ده، څه فرق نلري، که دا مال له کښت او کروندې وي، او یا له صنعت او سوداګرۍ، پر همدې دلیل د مذهبونو فقهاوو پر څارویو، غلو دانو، مېوو، پیسو او کانونو هم زکات واجب کړې دي.

له دغه ډولونو په حد او د نصاب په ټاکلو کې، ځینې له هغوی څخه او د سوالګرو د برخې په ټاکلو کې یو له بله اختلاف سره لري. امامیه وو د سواداګرۍ ګټه د پینځمې په اندازه؛ یعنې په سلو کې شل برخې واجب بللې ده. څلورګونو مذاهبو ویلي دي: د سوداګرۍ په مال کې زکات په سلو کې دوه نیمې برخې یا پر څلوېښتو یوه بللې ده. او همداراز حنفیه وو، امامیه وو او حنبلیه

وو د معدنونو پينځمه، او نورو پر څلوېښتو يوه برخه ويلې ده، چې د هغه څېړنه به د مذهبونو د اتفاق او اختلاف په موقعه ولولی.

**د څارويو زکات:**

مذهبونه په يوه خوله د څارويو زکات په درې ډوله واجب ګڼي: اوښ، غوايي، مېښه، پسه او وزه؛ خو په خره، غاتره او اس که سوداګرۍ تجارت ته نه وي زکات نشته. احناف يوازې د اس زکات هغه وخت واجب ګڼي، چې نر او ښځه دواړه منځ ته راشي.

## د څارويو د زکات شرطونه

**د څارويو زکات څلور شرطونه لري:**

**د اوښ نصاب:**

اوښ په داسې شکل د نصاب حد ته رسي چې يادونه يې په لاندې ډول کېږي او زکات يې داسې دی: پينځو اوښانو ته يو پسه، لسو اوښانو ته دوه پسونه، پينځلسو اوښانو ته درې پسونه، شلو اوښانو ته څلور پسونه وي، چې تردې ځايه پورې ټول

مذاهب په ګډه سره یوه خوله او یو نظر دي؛ خو پینځویشتو اوښانو ته امامیه وو ویلي دي: پینځه پسونه، او څلور ګونو مذاهبو ویلي: یوه بنت مخاض یا هغه ښځه جونګۍ، چې عمر یې دویم کال ته ورګډ شوی وي، او امامیه وو واجب ګڼلی، چې څرنګه د اوښانو شمېر (۲٦) ته ورسېد؛ نو یوه بنت مخاض (ښځه جوګۍ) یې زکات دی، ټول هغه څه چې یاد شول لومړي نصاب و.

چې کله د اوښانو شمېره (۳٦) ته ورسي، د ټولو مذاهبو په ګډه فیصله یوه بنت لبونه یا هغه ښځه جونګۍ ده، چې دوه کاله یې پوره کړې وي او په درېیم کال ورګډه شوې وي.

خو که دغه شمېره (٤٦) ته ورسي، ټول مذاهب سره یوه خوله دي، یوه څلور کلنه جونګۍ به ورکوي، چې په څلورم کال یې عمر ورګډ شوې وي او (٦۱) اوښانو ته د ټولو مذاهبو په اتفاق یوه جدعه یا هغه اوښه چې پینځم کال ته ورشریکه شوې وي، څرنګه چې (۷٦) ته ورسي، د ټولو مذاهبو په اتفاق دوې بنت لبونې د هغه زکات کېږي او که (۹۱) ته ورسي، زکات یې دوې حقې دی، ټول په دې اتفاق دي، چې د (۹۱) او (۱۲۰) ترمنځ

زكات نشته؛ خو چې کله (۱۲۱) ته ورسي؛ نو دلته مذهبونه ځانګړي بحثونه لري، چې باید لویو کتابونوته مراجعه وکړي.

مذهبونه ټول پردغه ټکي سره جوړ شوي دي، چې تر پينځو کمو اوښانو زکات نشته او د مخکېني او روسته راتلونکو ترمنځ هم زکات نشته، د بېلګې په توګه: له پينځو تر (۹) پورې همغه يو پسه زكات دی؛ نو رڅه نه زياتيږئ او له (۱۰) تر (۱٤) همغه دوه پسونه دي. او داسې نور .

**د غوايانو نصاب:**

د هرو (۳۰) غوايانو پر سر يو "تبيع" ياهغه خوسندر دی، چې يو کال يې پوره کړی وی او په دویم کال ورګډ شوی وي، او پر هرو څلوېښتو غوايانو يوه "مسنه" يا هغه خوسندر زكات دی چې درې کلنی ته ورګډ شوی وي، پر هرو (٦٠ غوايانو دوه "تبيع" او پر هرو (۷۰) غوايانو يوه "مسنه" او يو "تبيع" او پر (۸۰) غوايانو "دوې مسنې او پر (۹۹) غوايانو "۳تبيع" او پر سلو غوايانو "يوه مسنه" او "دوې تبيع"، پر (۱۱۰) غوايانو "دوې مسنې" او "يوه تبيع"، پر (۱۲۰) غوايانو "۳مسني" يا څلور تبيع زكات كيږي، او داسي نور، د دوو نصابونو ترمنځ زكات نشته د غوايانو نصاب د

ټولو مذاهبو له نظره يو ډول دی. تبيع هغه خوسکی دی، چې يو کال يې پوره، او دويم کال ته ورشريك شوی وي، مسنه هغه خوسکی دی، چې دريیم کال ته ورشريك شوی وی، مالکيانو ويلي دي: تبيع هغه خوسکی دی چې دوه کاله يې پوره اودريیم ته ورشريك شوی وي. او مسنه هغه غوايي دی، چې درې کاله يې پوره او څلورم ته و رګډ شوی وي.

**د پسه نصاب:**

د ټولو مذهبونو په اتفاق پر هرو څلوېښتو پسونو، يو پسه زکات دی. او پر (۱۲۱) پسونو دوه پسونه او پر (۲۰۱) پسونو درې پسونه زکات دی.

اماميه وو ويلي: چې کله د پسونو شمېره (۳۰۱) ته ورسي، څلور پسونه زکات ورباندې کيږي، تر څلور سوو يا له هغه زياتو پسونو په شمېره کې پر هرو سلو پسونو يو پسه زکات دی.

څلورګونو مذهبونو ويلي: پر( ۳۰۱) پسونو لکه پر (۲۰۱) پسونو يوازې دري پسونه زکات راځي، ان تر (۴۰۰)پورې، چې پکې څلور پسونه زکات کيږي، او که تر (۴۰۰) واوښت، پر هرو سلو

پسونو يو پسه زكات كېږي، چې د دوو نصابو ترمنځ زكات واجب نه دی.

۲ـ "سوم" د سين په زوركي سره، هغه څړنده څاروی، دی چې د كال په اكثرو ورځو كې په مباح مرغو كې څړېدلی وي، او څښتن يې تر كوم وخت پرته هېڅ واښه نه وي وركړي، او دا شرط د ټولو مذهبونو پر وړاندې په يوه اتفاق دی، بې له مالكيه وو، چې ويلي يې دي: څړونكي او غير څړېدونكي څاروي زكات لري.

۳ـ پر څاروي د كال راتلل چې ټول كال له څښتن سره پرځای ولاړ وي؛ خو كه د كال په منځ كې يو كم شي او د كال په پای كې بېرته پوره شي، دلته زكات ندی واجب، د بيلگې په توگه، څوك چې د كال په لومړيو كې (٤٠) پسونه ولري، روسته له څو مياشتو د مړيني، يا ډالی، او يا خرڅولو له لامله يو كم شو؛ خو د كال په پای كې بېرته دغه شمېره پوره شوه دا زكات نلري، او بايد سر له نوی كاله په نصاب كې ونيول شي، په دغه شرط كې اماميه، شافعيه او حنبليه ټول په يوه نظر دي، او احنافو ويلي: كه د نصاب شمېره د كال په منځ كې كمه او بيا د كال په پای كې پوره شوه؛ نو زكات وربانديې واجب دی، كټ مټ داسې، چې د كال له پيله

تر پایه هغه پر ځای پاته وي، او د اعتبار وړ شرعي کال، قمري کال دی؛ یعنې (۱۲) میاشتې.

(٤)_ داچې څاروی د کار کولو جوګه نه وي؛ لکه غوایي د ځمکې اړولو، او اوښ بار وړلو ته، که د کار کولو هر څومره څاروي وي د ټولو مذاهبو په اتفاق زکات نلري، بې له مالکیه وو چې ویلي یې دي: زکات پر څاروی واجب دی، که هغه د کار وړ وي او که نه وي.

مذهبونه په دې ټکي سره صلاح شوې دي، چې که څوك څو ډوله څاروي ولري؛ خو یو ډول هم نصاب ته نه وي رسېدلی، لازمه نده چې یو ډول له بل سره یوځای کړي؛ ځکه نصاب د همجنسو واجب دی چې د رسېدو په وخت کې زکات ورکړي، نه د غیر همجنسو؛ نو که د غوایانو شمېره تر (۳۰) کمه وي، او د پسونو شمېره تر (٤٠) کمه وي، په دې ترخ کې د غوایانو او پسونو زکات نشته، او نه خو غوایان له پسونو سره یوځای کولای شي، که په یوه نصاب کې دوه تنه شریکان وي دلته د مذهبونو نظر مختلف دی. امامیه وو، حنفیه وو او مالکیه وو ویلي دي: څو د شریکانو هر یو نصاب ځانځانته خپل حد ته نه وي رسېدلی،

زكات پرې واجب نه دی، شافعيانو او حنبليانو ويلي: که شريك مال د نصاب حد ته ورسي، زكات پرې واجب دی، که څه، د هر برخه وال سهم له نصابه کم وي.

### د سرو او سپينو زرو زكات:

د فقې پوهانو د سرو او سپينو زرو په برخه کې داسې ويلي دي، چې کله نصاب يا ټاكلې اندازې ته ورسي، زكات يې واجب دی او د سرو زرو ټاكلې اندازه يا نصاب (شل) مثقاله، او د سپينو زرو نصاب (د وه سوه) درهمه بولي[1]؛ خو په دې شرط، چې له څښتن سره يې پر نصاب يو کال تېر شوی وي، او د زكات اندازه يې پر "څلوېښتو" يوه ده؛ يعنې په "سلو کې دوه نيمې".

اماميه وو ويلي: د سرو او سپينو زرو زكات هغه وخت واجب دی، چې سكه وي، او که د ميلې يا بل شي په شكل اړول شوې وي، او يا ډول او سينګار ته کارول کېږي، پرې زكات نشته.

---

[1] دوه سوه درهمه له ۸۵ ګرم يا (م) سره برابر دي، چې يو ګرم له يوه مثقال سره برابر دی، دا يو فرانسوي واحد دی.

څلورګوني مذهبونه ټول په دې اتفاق دي، چې د شمش يا پر ميله اړول شوو زکات واجب دی؛ لکه څنګه چې په نغدو پيسو واجب دی، او په استعمالېدونکې ګاڼه کې سره مخالف دي، ځينو يې زکات واجب بللی، او ځينو نورو بيا ويلي، چې پراستعماليدونکي ګاڼه زکات نشته.

څرنګه چې د سرو او سپينو، او نغدو پيسو د زکات په اړه تردې زياتې خبرې نلرو، پر همدغه لنډ شانې اشاره څکه قناعت کوو، چې په دغه موده کې ورته يوه نښه نشته؛ خو مالي پاڼې، چې اماميه وو هغه واجب ګڼلې؛ يعنې هغه څه چې د کلنيو لګښتونو اضافه پاتې شي، چې روسته به يې په مفصله توګه ولولئ په پينځو کې يوه برخه زکات وربانديې شته.

د شافعي، مالکي او حنفي مذهبونو پيروان وايي: په مالي پاڼو زکات نشته، څو د نصاب حد ته رسېدلې نه وي، او پوره کال پرې تېر شي.

حنبلي مذهبه وايي: په پاڼو زکات نشته، څو پاڼې د سرو او سپينو زرو نه وي.

## د مېوې او کښت زکات:

مذهبونه ټول په دې سره صلاح شوي، چې د کرهنيزو محصولاتو او مېوو زکات، که د باران، يا روانو اوبو او يا له ويالې اوبه شوې وي، په سلو کې لس، او که له داسې ځاه چې له خولې يې اوبه په دباو سره روانې او راخوتېږي، او يا دې ته ورته ځاه څخه اوبه شي، په شلو کې يوه برخه ده. بې له احنافو نور ټول مذهبونه سره يوه خوله دي، چې په کښت او کرونده او مېوه کې نصاب د اعتبار وړ دی، او نصاب يې پينځه وسقه دی، هر وسق شپيته صاعه دی، هر صاع درې کيلو گرامه دی، چې (٩١٠) کيلوگرامه يې ټوله اندازه جوړېږي.يو کيلوگرام يو زرگرامه دی؛ خو چې لدې کم وي، زکات پرې نشته او احنافو ويلي دي: زکات پر لږ او ډېرو واجب دی، او هر دوه برابره، او هر يو حد دی؛ خو چې له کرهنيزو محصولاتو او مېوو پر څه څيزونو زکات شته، په دې اړه د مذاهبو ترمنځ د نظر اختلاف دی.

احنافو ويلي دي: که له ځمکې په هره اندازه مېوه او زراعتي محصولات لاسته راشي، بې له سون د لرگيو، نشه يي توکيو او درگې څخه، زکات پرې واجب دی.

د مالكي او شافعي مذهب پيروانو ويلي دي: هر شي چې مخارجو ته زېرمه شي؛ لکه غنم، وربشې، وريجې، كجورې او كشمش زكات پرې واجب دى.

حنبليانو ويلي: هغه كرهنيز محصولات او مېوې چې وتلل شي او زېرمه شي، زكات پرې شته.

اماميه وو ويلي دي: له غلو دانو د غنمو او وربشو زكات واجب دى، او له مېوو، كشمشو او كجورو بايد زكات وركړ شي، او بې له دغه بايد زكات ورنكړل شي؛ ځكه چې واجب نه؛ بلكې مستحب گڼل شوې دي.

**د سوداگرۍ زكات:**

د ټولو فقهاوو په خبره د سوداگرۍ مال هغه دى، چې د معاوضې په عقد، او گټې په نيت او د څښتن په لاس كې وي، او د څښتن د خپل كار محصول وگڼل شي؛ خو كه په ميراثي توگه مالك د هغه څښتن شو؛ نو بيا دا مال التجاره ندى.

زكات د ټولو څلورگونو مذهبونو په نزد واجب، او د اماميه وو په نزد مستحب دى.

د تجارت د مال زکات د هغه جنس له بيې چې پرې سوداګري کوي، وتلی دی، او اندازه يې پر څلوېښتو يوه ده. د علماوو اجماع وايي: چې کله د سوداګرۍ پر مال زکات اړه پيدا کړي، او يو کال له هغې راهيسې وتلی وي، او د کال پيل د تجارت د تصميم له مودې وی؛ نو که کال خلاص شو، او ګټه يې کړې وه، زکات پرې واجب دی.

اماميه وو ويلي دي: دا شرط دې چې يوه پانګه د کال له سره تر پايه پورې بايد موجوده وي؛ نو لدې ښکاري، چې که د کال په منځ کې دننه پانګه له نصابه کمه شي، په دې ترڅ کې زکات نه واجبيږي؛ خو که د پانګې ارځښت زيات شي، له همغه وخته بايد له سره راتلونکي نصاب ته ونيول شي.

شافعي او حنبلي مذاهب وايي: د کال پای د اعتبار وړ دی، نه د کال ټولې ورځې؛ نو که د کال په لومړيو، او د کال په منځ کې د نصاب څښتن شوی نه وي، او د کال په پای کې د نصاب څښتن شو، پر هغو زکات واجب دی.

احنافو ویلي د کال پیل او پای د اعتبار وړ دی، نه د کال منځ؛ پر همدې اساس هر څوك چې د کال په سر کې د نصاب څښتن شو، او د کال په منځ کې د نصاب له اندازې راولوېد، او په پای کې بیا له سره د نصاب حد ته ورسېد، پر هغه زکات واجب دی؛ خو که د کال په سر او پای کې نصاب ته نه و رسېدلی، زکات پرې واجب نه دی او د هغه جنس ارځښت پکې شرط دی، چې سوداګري پرې کوي او د نصاب حد ته رسېدلی وي؛ نو جنسونه ارځول کېږي او د سرو او سپینو زرو له نصاب سره پرتله کېږي، که د سرو او سپینو زرو له نصاب سره برابر او یا ډېر شي، زکات پرې واجب دی، او که د لږ نصابه کم و، زکات واجب نه دی.

د فقې دځلورګونو مذهبونو د کتاب مولف په ۱۹۲۲ زیږدیز کال کې د سپینو زرو نصاب، چې د سرو او سپینو زرو تر ټولو لږ نصاب و پر پینځه سوه نه ویشت، او دوه ثلثه مصری فرشه سنجولی دي.

**زکات پر ذمه سره دی، یا په خپله په مال کې:**

مذهبونو په دې اړه په خپلو کې مخالفت سره ښوولی، چې ایا په خپله په مال کې زکات واجب دی، که نه؟ حال دا، د زکات په

مالونو کې د زکات وړ کسان داسې برخمن دي؛ لکه نور شریکان چې له څښتن سره شراکت ولري، او یا داچې لکه د مړي په ترکه کې اکثره قرضونه د مالك یا څښتن له غاړې وي، هغه مجبور دی، چې لومړی د مړي تکفین او تدفین پر ذمه واخلي، بیا قرضداران یا پوره وړي خلاص کړي، څه چې پاتېږي، هغه په خپل منځ کې د فرضي برخو سره سم وویشي.

شافعیانو، امامیه وو او مالکیانو ویلي دي: زکات په خپله په مال کې دی، او فقیر د مال له څښتن سره رښتني شریك دی، د خدای تعالی د قول پر بناء چې فرمایي: "و فی اموا لهم حق معلوم للسائل والمحروم" او په حدیثو کې په پرلپسې توگه راغلي دي، چې " د فقیرانو او شتمنو ترمنځ یې شراکت اچولی دي" خو شرعې د مال پر څښتن ټینگار کړی، او اجازه یې ورکړې ده، له هغو مالونو چې زکات پرې نشته، زکات دې نه ورکوي، یوازې د هغه مالونو زکات دې ورکړي، چې زکات ورکول پرې واجب دی.

احنافو ویلي دي: زکات پخپله له همغه مال سره تړاو لري، چې زکات یې واجب وي؛ لکه: د حق الرهن تړاو، چې په شرط او

ګروی مالونو کې وي، چې دا حق به له دې چې خپلو مستحقو خلکو ته ورکړل شي، په بله هیڅ لاره لرې کېدای نشي.

له امام احمد بن حنبل دوه روایته راغلي، چې یو له دغو دوو روایاتو د احنافو په قول برابر دی.

## د زكات وړ

مذهبونه دلته يوه خوله دي، چې د زكات وړ كسان (اته) ډوله خلك دي، او هغه د توبې د سورت په (٦٠)آيت كې ياد شوي دي.

**إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاء وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللّهِ وَاللّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ**

**ژباړه:** زكاتونه يوازې ځانګړي شوي دي: فقيرانو او مسكينانو او د زكات د راټولولو كاركوونكيو او هغوی ته چې د زړونو لاس ته راوړل يې موخه وي او(همداراز) د مريانو (ازادولو) له پوروړو سره د مرستې او د خدای د لارې غښتلتيا او مسافر پالنې ته . دا( زكات) يو(مهم) الهي فرض دی او خدای پوه (او) حكيم دی.[١]

[١] (توبه/٦٠)

خو د مذهبونو اقوال د وړو کسانو د پېژندو په چوکاټ کې زکات ته په لاندې توګه څېړل کېږي[1]:

**فقیر:**

احنافو ویلي دي: فقیر داسې چاته وایي چې که څه، کار ولري، او په وجود روغ هم وي؛ خو دومره څه ولري، چې زکات پرې نه وي واجب له خپل ماله یې ورکړي؛ یعنې د ډېر کم مال څښتن وي، که یوسړی له هره بابه د نصاب خاوند وي؛ خو دغه نصاب د هغه له اصلي اړتیاوو ډېر نه وي؛ لکه د کور، د کور لوازمو او جامو درلودل، پر دغه سړي هم زکات نه کېږي؛ ځکه چې د ژوند لومړني اړتیاوې یې مخې ته پراته دي، او دلیل یې دا کېدای شي، چې د هر چا مال د نصاب حد ته ورسېده، بیا پر هغوی تر اړتیاوو

[1] بې شکه همدا خبره ده چې صدقې یا زکات لګېږي، د فقیرانو، مسکینانو او ټاکلو مامورینو صدقې راټولوي، او هغو ته چې د خلکو په زړونو کې له اسلام سره مینه پیدا کوي، او د غاړو په خلاصولو کې چې کاتبان څه نلري، او هغو پوره وړو ته چې تاوان په مال کې وررسېدلی وي، د خدای په لار کې ولګېږي مسافر ته چې مال ورسره نه وي، دغه زکات ټاکل شوی دی، د خدای (ج) له طرفه.

پوره کولو روسته زکات واجب دی، او پر هغه چاچې هغه ته د بل چا له خوا زکات ورکول کېږي، زکات نشته.

نورو مذهبونو په دې اړه ویلي دي: باور او پانگه یو ضرورت دی، نه د نصاب لرل؛ نو زکات پر داسې سړي حرام دی، چې زکات اخستو ته یې اړتیا نه وي، که څه، څه و نه لري، او اړمن سړی که څه، د نصاب یا کوم بل شي څښتن وي، زکات هغه ته رسي؛ ځکه د فقر معنا اړه ده، خدای پاك فرمایلي: "یا ایها الناس انتم الفقراء الی الله" یعنې ای خلکو! تاسې خدای پاك ته اړیاست.

شافعیانو او حنبلیانو ویلي دي: شرعي فقیر هغه دی، چې د یوه کال لگښت او د خپلې کورنۍ مصارف و نه لري؛ نو هغه چاته باید زکات ورکړل شي، چې که اوبه، شتمني او داسې گلې ولري، چې د کال په اوږدو کې کورنۍ ته یې بس نشي.

امامیه وو، شافعیه او حنبیله وو ویلي دي: پر هغه چې کار کولی شي زکات روا نه دی.

احنافو او مالکیانو ویلي دي: زکات هغو ته روا او ورته ورکول کېږي.

امامیه وو ویلي دي: فقیر که په ښکاره مال نلري، او درواغ یې معلوم ندي، بې له شاهده او بې له لوړې د منلو وړ دی؛ ځکه، دوه تنو ته د خدای (ج) رسول صلی الله علیه وآله وسلم خپل سرپورته کړ، هغوی ته یې وکتل، او و یې فرمایل: که وغواړئ تاسو ته یې درکړم، په دې پوه شئ چې د شتمن او داسې چاته چې هغه د کار کولو جوګه وي، برخه نشته، په دې توګه د خدای نازولي پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم په خپل نظر د زکات اخستنه بې له شاهده او بې له لوړې کولو ورکړه.

**مسکین:**

امامیه وو، حنفیه وو او مالکیه و ویلي دي: د مسکین حال تر فقیر بدتر دی.

حنبلیانو او شافعیانو ویلي دي: د فقیر حال له مسکینه بد دی؛ ځکه فقیر څه نلري او یا د خپل کفایت نیمه هم په لاس نشي راوړلای حال دا، مسکین داسې چاته ویل کیږي، چې د خپل کفایت نیمه په لاس راوړلای شي؛ نو نیمه پاتې برخه یې دې له زکاته ورپوره شي.

په هر صورت د فقیر او مسکین په بحث کې مذهبونه په خپلو کې حقیقي اختلاف سره نلري، چې د مسکین لومړنۍ اړتیاوې؛ لکه خوړل، پوښاك، درملنه، زده کړه او داسې نور دې د زکات له لارې پوره شي.

بې له مالکیه وو نور ټول په دې ټکي سره یو نظر دي، چې پر هر چا واجب و، زکات دې ورکړي.

مور، پلار، نیکه، زوی، لور، لمسي، او ښځې ته چې پر یوه کاسه او یوه دسترخوان ورسره خوري زکات ورکول را نه دي.

خو مالکیه وو، نیا او بابا او د زوی زوی ته یې روا بللی، چې باید ورکړل شي؛ ځکه چې دغه خلك د مالکیه وو پر وړاندې واجب النفقه نه گڼل کیږي، او همدارنگه سره متفق دي، چې د زکات ورکول، رور، کاکا، ترور او د شېدو ورکولو مور یا دایي ته روا دي، او همداسې په دې ټکي سره یې سوله شوي، چې، د زکات ورکول پلار او زوی ته که د فقیرانو او مسکینانو له ډلې وي، روا نه دی؛ خو که د فقیر او مسکین په نامه نه وي، ورته زکات ورکول روا دي همداسې لکه څنگه چې پلار یا زوی د خدای (ج) په

لار کې جهاد کوي او یا خلك د خدای (ج) دین ته رابولي، شرعي پور وړی وي، او یا د ذات البیني اصلاحاتو په لټه کې وي، او یا له کارکوونکیو د زکات راټولو هڅه کوي؛ نو ورته هم د زکات ورکول روا دي؛ ځکه هغوی که ماړه وي یا نشتمن، خپل حقوق له زکاته اخلي[1].

زکات که پر داسې خپلوانو وویشل شي، چې نفقه یې د زکات ورکوونکي پر غاړه نه وي، غوره ده خو له یوه ښاره بل ته د زکات په وړلو کې مذهبونه سره مخالف دي، احنافو او امامیه وو ویلي دي: دهمغه محل او همغه ښار خلك لومړی حق لري، چې باید زکات ورکړل شي؛ خو که داسې حاجت او اړه پیدا شي، چې تر زکات ورکولو یې بل ځای ته وړل غوره وي؛ نو بیا سمه ده چې بلې سیمې یا بل ښار ته یووړل شي.

شافعیانو او مالکیانو ویلي دي: له یوه ښاره بل ته د زکات وړل ندي روا.

---

[1] تذکره العلامه، ۱ج، باب الزکوه.

احنافو ويلي دي: داسې ښار ته، چې تر هغه ځايه پورې سړی مسافر نه ګڼل کېږي، او د فرض لمانځه کسر نه راځي، د زکات ورل روا دي؛ خو که تر هغه ښار پورې د لمانځه کسر راشي او سړی مسافر وبلل شي؛ نو بيا د زکات ورل را نه دي.

**کارکوونکي:**

د زکات راټولو مامورينو په برخه کې، چې د صدقو په راټولو کې زيارګالي، ټول مذهبونه سره يوه خوله دي.

(٤)_ مولفه قلوبهم: څوك چې د اسلام او يا د اسلام د مصلحت پر خوا وي، د مولفه قلوبهم په نوم يادېږي کولای شی، چې له زکاته يې ورته ورکړئ؛ خو خبره داده، چې په اسلام کې اوس دا حکم شته او که نه؟

مذهبونو يو له بله سره په دې اړه اختلاف ښوولي، او د نشتوالي په صورت کې ايا دا د غير مسلمان دين ته د خصوصي دوستی راښکلو په وجه دی، او يا هغو مسلمانانو ته، د چاچې ايمان سست او پيکه دی؟

احنافو ويلي دي: دا حکم په لومړيو کې د مسلمانو د ضعيف ايمان د جبران په صورت کې صادر شوی؛ خو نن چې اسلام ډېر ځواکمن دی، دا حکم له منځه تللی دی، او نورو پاتې مذهبونو په دې اړه اوږده بحثونه کړي دي، او د "مولفې" د ډولونو د شمېرلو په برخه کې امکان لري، يوه شي ته مخ واړول شي.

او هغه به پرځای او غير منسوخ حکم وي، او د مولفې برخې مسلمان او غير مسلمان ته ورکول کېدای شي.

په دې شرط چې پايلې يې په خير، او د اسلام او مسلمانانو مصلحت ته وي.د خدای (ج) رسول صلی الله عليه وآله وسلم صفوان بن اميه ته حال دا، هغه مشرك و زکات ورکړ، حال دا، د ابوسفيان او په څېر يې د نورو ټاکلې برخه چې په ظاهره مسلمان و د شر او فساد له وېرې چې دوی له دين او مسلمانانو سره لرل ور نه کړه او دوی ته يې ورکړه.

**رقاب:**

رقاب دې ته وايي، چې د زکات پر مال غلام يا مريی واخستل شي، او بيا ازاد کړای شي او پکې ښکاره دليل شته، چې ډېرې

لارې يې د مرييو ازادولو ته جوړې کړې دي؛ خو بيا هم دغه حکم په دې زمانه کې له منځه تللی دی.

**پوروړي:**

پوروړي هغه خلك دي، چې د خدای (ج) د رضا او دين په لار کې پوروړي شوې وي او په ګډه ښايي د زکات له لارې يې پور اداء شي.

**فی سبیل الله:**

څلورګونو مذهبونو ويلي دي: د في سبيل الله موخه هغه مجاهدين دي، چې پخپله خوښه له اسلام څخه دفاع ته په جګړه کې ورګډيږي.

اماميه وو ويلي دي: د خدای (ج) لاره ټولو ته ده، د خدای (ج) د لارې جګړه کوونکيو، د جوماتونو د ودانولو، روغتونو، مدرسو، لارو او پلونو جوړولو، څاکيندلو او نورعامه مصالحو لارې.

**ابن السبیل:**

هغه غریب چې خپل ښار او مال ته یې لاس نه وررسي او لرې وی، هغه ابن سبیل دی، او روا ده، له زکاته دومره ورکړ شي، چې خپل ټاټوبي ته پرې ورسي.

(۱)- مساله: ټول په دې اتفاق دې، چې د زکات ډولونه که له بني هاشم پرته د بل چاوي؛ نو پر بني هاشم دغه زکات ناروا دی؛ خو که پخپله بني هاشم، بني هاشم ته زکات ورکړي؛ نو دا ورته حلال دي.

(۲)- مساله: ایا دا روا ده، چې ټول زکات دې یوه مسکین ته ورکړل شي؟

امامیه وو ویلي دي: روا ده، ان تردې چې هغه پر دغه زکات بډای هم شي؛ خو شرط پکې دا دی، چې یو ځل به ورکول کیږي، نه څو ځله.

احنافو او حنبلیانو ویلي دي: دومره زکات باید یوه تن ته ورکړل شي، چې هغه پرې بډای نشي.

مالکیانو ویلي دي: د ټول زکات ورکول یوه تن ته روا دي؛ خو هغه چاته چې د زکات را ټولولو مامور وي بې له خپلې تنخواه نور زکات ورکول ورته را نه دي.

شافعي مذهبه وايي چې پر اتو ډلو د زکات ویشل واجب دي، که یوه ډله نه وه کولای شی، چې بلې شته ډلې ته زکات ورکړئ، هرې ډلې ته چې غواړئ ورته زکات ورکړئ باید له دریو یې شمېره کمه نه وي.

(۳)- مساله: د زکات مالونه دوه ډوله دي: الف: هغه شیان؛ لکه څاروي او د سوداګرۍ ګټه، چې تر یوه کال تېرېدو روسته پرې زکات لازمېږي، څو چې شرعي کال پرې و نه وځي، زکات پري نشته، او د امامیه وو په نزد سنت دی، چې د زکات ورکوونکي په ملکیت کې یوولس پوره میاشتې تېرې شي، او دولسمې میاشتې ته وراوښتی وي.

ب: -په مېوو او غلو دانو کې کال واجب نه دی؛ څکه چې زکات یې د رسېدو پرمهال واجبېږي؛ خو د مېوو د زکات ورکولو پرمهال د مېوو شکول، لمر ورکول، او وچول شرط دي، حال دا، د غلو

دانو زکات تر ربېلو، تر وښو بېلولو روسته د درمند کولو په وخت کې دي.

کوم سړی چې زکات پرې کېږي، او د زکات موده په لوې لاس ځنډوي؛ لکه بې وخته لمونځ پرې گناهکار او په ورکولو یې مسئول او مجبور دی؛ ځکه چې واجب یې شاته غورځولي، څو په نازك وخت کې د ځنډېدو پرمهال کموالی وکړي.

## د فطر زکات

د فطر زکات چې د بدن د زکات په نامه سره هم یاد شوی دی، لاندې موخو ته تر بحث لاندې راځی: څوك یې چې پر ورکولو مجبور دی، د زکات اندازه، د زکات د ورکولو وخت، او مستحق یې، چې باید چاته ورکړل شي.

**هغه سړی، چې پر ورکولو یې مکلف دی:**

څلورگونو مذهبونو ویلي دي: د فطر زکات پر هر مسلمان، چې د ورکولو وس ورسره وي واجب دی، که هغه لوی وي یا وړوکی ماشوم؛ نو پر سرپرست ولي دا واجبه ده، چې پر نفقې ورکولو

سربېره د همدې کسانو د فطر صدقه هم ورکړي، چې د واړه او لېوني له ماله يې بيل، او فقيرانو ته يې ورکړي، د احنافو په نزد ددغه زکات په ورکولو هغه څوك وس لري، چې د زکات د نصاب څښتن وي او بيه يې تر حاجت زياته وي.

شافعيانو، مالکيانو، او حنبليانو ويلي دي: وسمن هغه څوك دی، چې تر خپلو او د عيالې تر لګښتونو پرته له خپلو ضروري اړتياوو لکه کور، لباس او د کور سامان الات د اختر د شپې او ورځې لګښت ولري، مالکيه وو زياته کړې ده چې: که څوك د بيا ادا کولو تمه ولري، قرض دې وکړي او دغه د فطر زکات دې ورکړي.

اماميه وو ويلي دي: د زکات د واجبېدلو شرطونه بلوغ، عقل او واك دي؛ نو پر ماشوم او لېوني واجب نه دی، د حديث د دليل پر استناد درې تنه له دغه مکلفيته خلاص دي:

ماشوم، څو د احتلام مرحلې ته نه وي رسېدلی، لېوني، څو په سد شوی او د عقل څښتن نه وی شوی، ويده، څو له خوبه پاڅېدلی نه وي؛ خو په اند يې واکمن هغه دی، چې خپل او د عائلې کلني

اړتیاوې په خپل کار سره پوره کړای شي، یا پر یوه داسې ماشین وپوهېږي، چې پرې خپل کسب پرمخ بوتللی شي.

احنافو ویلي دي: پر مکلف واجبه ده، چې د خپل ځان، خپل ماشوم زوی، مزدور او د هغه زوی د فطر زکات دې پلار ورکړي چې لېونی وي، که څه، لوی وي؛ خو که زوی بالغ او د عقل څښتن وي، بیا یې پر پلار د فطر زکات واجب نه دی؛ لکه څنګه چې پر مېړه د ښځې د فطر زکات نشته او ښځه دې خپل زکات پخپله ورکړي، حنبلیانو او شافعیانو ویلي دي: د خپل ځان او نورو هغو کسانو چې نفقه یې ورباندې لازمه ده ؛ لکه ښځه، پلار او زوی زکات ایستل یې هم ورباندې واجب دي.

مالکیانو ویلي دي: د خپل ځان او د ده تر کفالت لاندې وګړو؛ لکه پلار او مور چې څه و نه لري، او نارینه ماشوم زوی چې مال نلري د بلوغ تر وخته پورې، څو د کار کولو جوګه شي، او فقیرې لوڼې، څو پورې یې مېړه نه وي کړی او همدارنګه د ښځې د فطر زکات ایستل د کفالت او ذمه وارۍ له لامله پرې واجب دي، امامیه وو ویلي دي: د خپل ځان او نورو هغو کسانو چې خوراك، څښاك او پوښاك یې د ده له غاړې دی، د کوشني اختر په شپه تر

لمر لوېدو دمخه د فطر د صدقې یا زکات ورکول پرې واجب دي؛ خو بې له توپیره دا کار باید وکړي، د لوي یا واړه، مسلمان یا کافر، لرې یا نژدې خپلوان او که نفقه ورکوي یا نه، ان تردې چې که د شوال د میاشتې له لومړۍ نېټې څو لحظې دمخه کوم مېلمه هم ورته راغی، په ډوډۍ خوړونکیو کې یې شمېرل کیږي؛ نو وربانديې واجبه ده چې د فطر صدقه یا زکات یې ورکړي، همدارنګه که د کوشني اختر په لومړۍ شپه تر لمر لوېدو د مخه ماشوم پیدا شو، یا یې ښځه وکړه؛ نو د فطر صدقه یا زکات ورکول یې وربانديې واجب دي؛ خو که مېلمه تر لمر لوېدو روسته ورغی، یا یې زوی وشو، او یا یې ښځه وکړه، د فطر صدقه یا زکات ورکول یې وربانديې واجب نه دي.

او که د چا د فطر صدقه یا زکات پر بل چا بانديې اړه وموميې، که شتمن هم وي؛ نو بیا له غاړې یې د فطر صدقه یا زکات ساقط او اوښتی دی.

**د فطر د زکات اندازه:**

ټول مذهبونو بې له احنافو په دې سره یوه خوله دي، چې هر سړي ته ټاکلې اندازه یو صاع غنم، یا وربشې، یا خرما، یا کشمش،

يا وريجې، يا جوار او داسې نور ټاكل شوې ده، چې د يوه تن خوراك ته په يوه ځانښت بس كېږي؛ خو احناف وايي: چې نيمه صاع غنم يوه تن ته دي او صاع درې كيلوګرامه دی.

**د واجبېدو وخت:**

احنافو ويلي دي: د فطر د صدقې يا زكات د وركولو وخت د كمكي اختر د لومړۍ شپې د سپېده چاود له سره يعنې د اختر په اوله ورځ د همدې ورځې تر پايه يا د مازيګر تر پايه پورې دی؛ ځكه د فطر د صدقې يا زكات وركول له پراخو واجباتو دی، او ادا كول يې كه وړاندې روسته شي، پرځای او سم دي.

حنبليانو ويلي دي: د اختر تر اولې ورځې ځنډولو د فطر د زكات وركول حرام دی او كه له اختره دوې ورځې دمخه دغه صدقه وركړه شي صحيح ده؛ خو كه له دغې مودې زياته وي؛ نو بيا سمه نده.

شافعيانو ويلي دي: د واجبېدو وخت يې د روژې د مياشتې تر ټولو روستۍ ورځې، او د شوال لومړنۍ برخې دی؛ يعنې د لمر لوېدو او مخ كې له هغه او د روژې د مياشتې په اخره متسحب

دی چې د اختر په لومړۍ ورځ د خپل مال صدقه یا زکات ورکړي، او د فطر د صدقې ایستل د اختر د اولې ورځې تر لمر لوېدو روسته بې له کومه شرعي عذره حرام دي، له امام مالك (رح) دوه روایته راغلي دي، چې په یوه کې یې د روژې د میاشتې د روستۍ ورځې لمر لوېده واجب بللي دي.

امامیه وو ویلي دي: د فطر زکات ورکول د اختر د شپې پر داخلېدو سره واجبیږي او ادا کول یې د اختر د لومړۍ شپې د لمر لوېدوله پیله د اختر د همغه ورځې تر ماسپښین پیلېدو پورې واجب دي؛ خو غوره دا ده، چې د اختر د لمانځه تر ادا کولو دمخه باید د فطر صدقه ورکړه شي؛ خو که په دغه وخت کې د صدقې ورکولو وړ څوك پیدا نه شول، مکلف باید هغه په تر ټولو لومړني فرصت سره روغ نیت ادا کړي، او که د وړ په موجودیت کې یې هم ادا نکړي، او څنډ پکې پیدا کړي، له خپل ماله د صدقې ورکول روسته هم پرې واجب دي، او په هېڅ شکل له غاړې نه اوړي.